# خبري بولټن

**خپرونکی: ملالی د لوړو زده کړو مؤسسه**
**دريیم پر له پسي کال**
**د ۱۴۰۱ ل. کال لومړی ګڼه**
**حمل مياشت**

## د شانداره مراسمو په ترڅ کي ۴۵۸ تنو ته د فراغت اسناد ووېشل سول

د ۱۴۰۰ ل. کال حوت مياشتي په ۲۸ مه نېټه د شنبي په ورځ د کندهار په تاج محل صالون کي د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د طب، حقوقو او سياسي علومو له پوهنځيو څخه ۴۵۸ تنه فارغ سول. د فراغت مراسمو د دريځ چاري ښاغلي نصير احمد حامد مخ ته وړلي، د غونډي پيل د ښاغلي نېک محمد رازمل له خوا د کلام الله په مبارکو آيتونو وسو.
د مؤسسې عمومي رئيس ښاغلی پوهنيار عبدالمالک نيازی دريځ ته دعوت سو، ښاغلي نيازي وويل: « د هر اشغال لامل زموږ له تحصيل او تعليم څخه لېري والی دئ.» د دې ترڅنګ يې نوري مهمي خبري وکړي او ټولو فارغانو ته يې مبارکي وويله. د کندهار ولايت له پاره د لوړو زده کړو وزارت ځانګړی استازی او د کندهار پوهنتون مالي او اداري مرستيال ښاغلی انجنير عبدالناصر نېکزاد دريځ ته دعوت سو. نوموړي فارغانو ته مبارکي وويله او زياته يې کړه چي ټولنه په هره برخه کي مسلکي او تخصص لرونکو کادرونو ته اړتيا لري.
د کندهار علماو شورا مرستيال مولوي مجاهد د لوړو زده کړو ارزښت، اهميت، په اوسني عصر کي د مسلکي کادرونو په اړتيا او ځينو نورو مهمو موضوعاتو خبري وکړي. نوموړي وويل: « اسلام کامل دين دئ او هغه وخت ښه تطبيقېدای سي چي کله عالم، ډاکټر، انجينر، قاضي او په هره برخه کي مسلکي کسان ولري.»
د طب پوهنځي فارغانو ته د طب پوهنځي رئيس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر له خوا لوړه ورکړل سوه او د مسلکي توب ژمنه ترې واخيستل سوه. فارغانو د مؤسسې بيرغ محصلانو ته وسپاره او ورپسي د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد د فارغانو په جزئياتو خبري وکړي او د فراغت اسنادو وېشلو په ډول يې له ګډون والو سره معلومات شريک کړل وروسته په ترتيب د رهبري هيئت او استادانو په مرسته فارغانو ته د فراغت اسناد ووېشل سول او غونډه د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.




## له عرفان ټولنيز بنسټ سره تفاهم ليک لاسليک سو او سکالرشيپونه ورکړل سول

د دوشنبي په ورځ د روان (۱۴۰۱ ل.) کال حمل مياشتي په اوله نېټه د کندهار ولايت عرفان ټولنيز بنسټ سره د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د غونډو په تالار کي د ګډو همکاريو تفاهم ليک د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې علمي مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد او د عرفان ټولنيز بنسټ بنسټګر ښاغلي مولوي سيف الاسلام خيبر له خوا لاسليک سو او ياد بنسټ ته په طب، حقوقو او سياسي علومو پوهنځيو کي سکالرشيپونه ورکړل سول.
د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې علمي مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد مجلس د رهبري هيئت په پېژندنه را پيل کړ. ورپسي د عرفان ټولنيز بنسټ بنسټګر ښاغلي مولوي سيف الاسلام خيبر د بنسټ په موخو، جوړښت، څانګو، پلانونو او لاسته راوړنو مهمي خبري وکړي. تر هغه وروسته د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې عمومي رئيس ښاغلي پوهنيار عبدالمالک نيازي له دوی مننه وکړه او ډاډ يې ورکړ چي هر ډول مرستي ته به ژمن وي.
د دې تفاهم ليک له مخي به د عرفان بنسټ له خوا معرفي سوي درې کسان سل سلنه تخفيف او اووه کسان پنځوس سلنه تخفيف په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کي جذبېږي. همدارنګه د ياد بنسټ له خوا پنځو تنو معرفي سوو نارينه و ته په طب پوهنځي کي ۳۰ سلنه تخفيف او پنځو تنو ښځينه و ته 40 سلنه تخفيف ورکول کېږي.



## ۲۱ کانکور واخيستل سو

د طب، حقوقو او سياسي علومو پوهنځيو له پاره تېره جمعه د روان ۱۴۰۱ ل. کال حمل مياشتي په ۵ مه نېټه ۲۱ کانکور له کندهار پوهنتون څخه د راغلي هيئت او کانديد محصلانو په حضور کي واخيستل سو.
مجلس د قرآن کريم په مبارکو آيتونو پيل سو. د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې عمومي رئيس ښاغلي پوهنيار عبدالمالک نيازي کانديد محصلانو ته د ښه راغلاست تر څنګ د تحصيلي بهير د پيل مبارکي وويله او ډاډ يې ورکړ چي ملالی د لوړو زده کړو مؤسسه به د خپلو امکاناتو په مرسته دوی ته غوره خدمات وړاندي کوي.
د کندهار پوهنتون مالي او اداري مرستيال او د کندهار له پاره د لوړو زده کړو وزارت استازی ښاغلی انجينير محمد ناصر نېکزاد د لوړو زده کړو ارزښت او د علمي پروګرامونو د اهميت په اړه مهمي خبري وکړي.
د کندهار پوهنتون د محصلانو چارو مرستيال ښاغلي پوهندوی فيض الله قاضي زاده هم خبري وکړي او ګډون والو ته يې د ازمويني پروسې او تحصيلي شخصيت جوړولو په اړه لازم هدايات وکړل. وروسته مهر لاک سوی د سوالونو بکس د دوو تنو کانديد محصلانو له خوا خلاص او د څارونګي ټيمونو له خوا ازموينه پيل سوه او تر څو ساعتونو وروسته پای ته ورسېده.
د يادوني وړ ده کومو کسانو چي عمومي کانکور کي د ځينو ستونزو له کبله ګډون نه وي کړئ هغوی کولای سي په متفرقه ازموينه کي ګډون وکړي چي د حمل مياشتي په ۱۹مه نېټه اخيستل کېږي.



## د ښېرازه چاپېريال په موخه نيالګي کښېنبودل سول

د چاپېريال ساتني کمېټې د پرېکړې له مخي د روان ۱۴۰۱ ل. کال حمل مياشتي په ۴ مه نېټه د پنجشنبي په ورځ د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې په انګړ کي د مؤسسې رهبري هيئت له خوا د ښېرازه چاپېريال په موخه نيالګي کښېنبودل سول.



پته: دوهمه عينو مېنه، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان.
ويب پاڼه: www.malalay.edu.af
برېښناليک: info@malalay.edu.af
فېسبوک او انسټاګرام: malalay.mihe
ټوېټر: malalay.mihe
وټس اپ: 0703 300 634

## د حقوقي کلینیک فراغت غونډه دائره سوه

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوقي کلینیک دوهمي دورې فراغت غونډه تېره پنجشنبه د روان ۱۴۰۱ل. کال حمل میاشتي په ۴ مه نېټه د تمثیلي محکمي په تالار کي دائره سوه. مجلس د قرآن کریم په مبارکو آیتونو پیل سو. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې عمومي رئیس ښاغلي پوهنیار عبدالمالک نیازي فارغانو ته مبارکي وویله او دوی یې وهڅول تر څو د بریا له پاره پیل له کوچنیو کارونو څخه وکړي. د حقوقي کلینیک آمر ښاغلي عمران غروال د حقوقي کلینیک په ترسره سوو فعالیتونو، لاسته راوړنو، د دوو دورو فارغانو په کمیت او کیفیت مهمي خبري وکړي. تر هغه وروسته فارغانو ته تصدیق پاڼي ووېشل سوې او مجلس د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېد.



## د ۱۴۰۱ ل. کال تطبیقي پلان ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د ۱۴۰۱ ل. کال تطبیقي پلان د سې شنبي (۱۴۰۱/۱/۹) په ورځ د مؤسسې عمومي رئیس ښاغلي پوهنیار عبدالمالک نیازي له خوا د مؤسسې درې ګونو معاونینو، د څانګو او مرکزونو آمرینو او د ټولو مدیرانو په حضور کي ارائه سو.

په یاد پلان کي د روان کال له پاره د ټولو برخو فعالیتونه ذکر سول، د ګډون والو نظریات واخیستل سول او په ځینو برخو کي یې تغییرات راوستل سول. د یادوني وړ ده چي کلنی تطبیقي پلان د پنځه کلن ستراتېژیک پلان په رڼا کي جوړېږي تر څو یې موخي په تدریجي شکل ترلاسه سي.




## ۲۱ متفرقه کانکور واخیستل سو

د طب، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځیو له پاره تېره جمعه د روان ۱۴۰۱ل. کال حمل میاشتي په ۱۹ مه نېټه ۲۱ متفرقه کانکور واخیستل سو. مجلس د قرآن کریم په مبارکو آیتونو پیل سو. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې علمي مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید کاندید محصلانو ته ښه راغلاست ووایه او د غوره تحصیلي امکاناتو ژمنه یې ورکړه. ورپسې د پوښتنو بکس خلاص سو، پوښتني ووېشل سوې او د محصلانو چارو مرستیال ښاغلي الیاس کریمي د ازمویني په اړه مهم ټکي له کاندید محصلانو سره شریک کړل. وروسته ازموینه پیل سوه او په ټاکلي وخت پای ته ورسېده.

په ازموینه کي د طب، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځیو له پاره ټولټال ٦٧ کسانو ګډون کړی و چي له ډلي یې ۲۷تني ښځینه وې.



## د روغتیا نړۍ واله ورځ ولمانځل سوه

تېره پنجشنبه د روان ۱۴۰۱ل. کال حمل میاشتي په ۱۸ مه نېټه د مسلکي پرمختیایي مرکز د پلان له مخي د یاد مرکز په تالار کي د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر له خوا د روغتیا نړۍ والي ورځي په مناسبت ترتیب سوي معلومات له ګډون والو سره شریک سول.

غونډه د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سوه. ورپسې ښاغلي عمر د روغتیا په اړه خپل ترتیب سوی پرزنټیشن پیل کړ چي لاندي معلومات پکښي شامل وو: روغتیا څه ده؟ په افغانستان کي د روغتیا تاریخچه، د روغتیا ټاکوونکي نړۍ وال عوامل او...

په غونډه کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هیئت، اداري کارمندانو او محصلانو ګډون درلود.




## له اداري واحدونو سره د طب پوهنځي نوي محصلان معرفي سول

د پنجشنبي په ورځ د روان ۱۴۰۱ ل. کال حمل میاشتي په ۲۵ مه نېټه د طب پوهنځي مرستیال ښاغلي نصیب الله ژمن په مرسته د طب پوهنځي ۲۱ عمومي او متفرقه کانکور نوو کامیاب سوو محصلانو ته د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې اداري واحدونه او اداري کارمندان معرفي سول.

په دې بهیر کي محصلانو له هر اداري واحد څخه لیدنه وکړه، اداري کارمندانو د خپلو دندو او فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل، وروسته یې له څلورو لابراتوارونو، انټرنټ کلب، عاجل اطاق او کتابتون څخه لیدنه وکړه.



## له اداري واحدونو سره د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي نوي محصلان معرفي سول

د شنبي په ورځ (۱۴۰۱/۱/۲۷) د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوق څانګي آمر ښاغلي عابد الرحمن حبیبي په مرسته د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ۲۱ عمومي او متفرقه کانکور نوو کامیاب سوو محصلانو ته د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې اداري واحدونه او اداري کارمندان معرفي سول.

په دې بهیر کي محصلانو له هر اداري واحد څخه لیدنه وکړه، اداري کارمندانو د خپلو دندو او فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل، وروسته یې د تمثیلي محکمي له تالار، مناظرې کلب، حقوقي کلینیک، انټرنټ کلب او کتابتون څخه لیدنه وکړه.



# خبري بولټن

خپرونکی: ملالی د لوړو زده کړو مؤسسه
دریيم پر له پسي کال
د ۱۴۰۱ ل. کال دوهمه ګڼه
ثور میاشت

## طبابت اخلاقو سمینار ارائه سو

د پنجشنبي په ورځ (۱۴۰۱/۱/۲۵) د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د یاد مرکز او طب پوهنځي د پلان له مخي د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر د طبابت اخلاقو اړوند مهم سمینار ارائه کړ. په پیل کي د مؤسسې عمومي رئیس ښاغلي پوهنیار عبدالمالک نیازي پیلیزه وینا وکړه او د مسلکي اخلاقو په ارزښت یې خپل مهم معلومات د سمینار له ګډون والو سره شریک کړل. د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر سمینار را پیل کړ او د اخلاقو په پېژندلو، ډولونو، مسلکي اخلاقو او ځینو نورو مهمو موضوعاتو خپل چمتو کړي معلومات له ګډون والو سره شریک کړل.

استادان، اداري کارمندان او د طب پوهنځي محصلان د سمینار ګډون کوونکي وو چي په پای کي یې خپلي پوښتني مطرح کړي او د وړاندي کوونکي له خوا ځوابونه ورکړل سول.

ملالی د لوړو زده کړو مؤسسه د محصلانو د کیفیت لوړوني په موخه وخت نا وخت سمینارونه، ورکشاپونه او روزنیز پروګرامونه دائروي چي پورته سمینار یې یوه برخه ده.



## کلني بودجي پلانونه ارائه سول

د روان ۱۴۰۱ ل. کال، حمل میاشتي له دریيمي اونۍ څخه را په دې خوا د ۱۴۰۱ ل کال له پاره د مؤسسې، درې ګونو معاونیتونو، دوو پوهنځیو، د څانګو آمریتونو، مرکزونو او نورو آمریتونو بودجوي پلانونه ارائه سول. د بودجي ارائه کولو بهیر د حمل میاشتي په دریيمه اونۍ د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د مالي او اداري معاونیت د پلان له مخي پیل د شنبي په ورځ (۱۴۰۱/۱/۲۷) پای ته ورسېد.

په دې بهیر کي د هرې اداري مسؤلو کسانو خپل کلني بودیجوي پلانونه ارائه کړل، د نظریاتو غوښتلو فورمي یې ووېشلي او په وروستۍ ورځ مالي او اداري مرستیال ښاغلي حبیب رسول سیدي د مؤسسې عمومي بودجوي پلان د مجلس له ټولو ګډون والو سره شریک کړ. د مؤسسې له ټولو کارمندانو سره د بودجوي پلان شریکولو موخه له یاد پلان څخه د ټولو کسانو خبرېدل، په موخو کي د نظریاتو را ټولول او په چارو کي شفافیت و.




## د اسلامي او مسلکي اخلاقو اړوند سمینار ارائه سو

د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د دوشنبي (۱۴۰۱/۱/۲۹) په ورځ د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر له خوا د طب پوهنځي نوو کامیاب سوو ښځینه محصلانو ته د مسلکي او اسلامي اخلاقو اړوند مهم سمینار ارائه سو.

د سمینار په پیل کي ښاغلي نېک محمد رازمل د کلام الله مبارک آیتونه تلاوت کړل. ورپسي د علمي چارو مرستیال ښاغلی عبدالرحمن سعید دریځ ته دعوت سو، نوموړي د اسلامي او مسلکي اخلاقو په ارزښت، اهمیت او اغېز مهم خبري او ځیني سپارښتني ښځینه محصلانو ته وکړي او له دوی څخه یې د مراعاتولو ژمنه واخیسته.

ډاکټر عمر دریځ ته راغی او د مسلکي اخلاقو اړوند یې خپل ترتیب کړي معلومات له محصلانو سره په ځو مهمو برخو کي شریک کړل او دوی ته یې د مسلکیتوب سپارښتني وکړي وروسته سمینار د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېد.




## ۳۸ اداري واحدونو خپل کلني عملیاتي راپورونه ارائه کړل

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې کیفیت تضمین او لوړاوي آمریت د پلان له مخي د ټولو اداري واحدونو د ۱۴۰۰ ل کال عملیاتي پلانونو کلني راپورونو ارائه کول د شنبي (۱۴۰۱/۱/۲۸) په ورځ پیل او د دوشنبي (۱۴۰۱/۱/۳۰) په ورځ پای ته ورسېدل.

یاد راپورونه په دوو (سهار او ماپښین ) وختونو کي د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي ارائه سول. د هر راپور ارائه کوونکي ارزونه د درې کسیزه ارزونکي هیئت له خوا ترسره سوه.

د عمومي ریاست، درې ګونو معاونیتونو، دوو پوهنځیو په شمول ټولو مراکزو، آمریتونو او مدیریتونه خپل راپورونه ارائه کړل او د هیئت له خوا یې راپورونه وارزول سول، نمرې ورکړل سوې او نږدې راتلونکي کي به مکافات ورکړل سي.




## په افغان ترک لېسه کي معلوماتي سمینار ارائه سو

د یکشنبي ( ۱۴۰۱/۱/۲۸) په ورځ د طب پوهنځي د پلان له مخي د کندهار په افغان ترک لېسه کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي استاد ښاغلي سلیمان شاه سمون له خوا د یادي لېسي زده کوونکو ته د نوو ځوانانو او ځوانانو ودي اړوند معلوماتي او تشویقي سمینار ارائه سو.

په سمینار کي د لېسي د زده کوونکو ترڅنګ د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي مرستیال او استادان او د افغان ترک لېسي اداري کارمندانو ګډون درلود.

تر سمینار وروسته د افغان ترک لېسي مسؤلینو د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له استادانو مننه وکړه چي په مکاتبو کي د دا ډول سمینارونو پلانونه لري او ژمنه یې وکړه چي تر دې وروسته به دا ډول لیدنو ته وده ورکوي.



پته: دوهمه عینو مېنه، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان. ویب پاڼه: www.malalay.edu.af برېښنالیک: info@malalay.edu.af فېسبوک او انسټاګرام: malalay.mihe ټویټر: malalay.mihe وټس اپ: 0703 300 634

## د محصلانو عملي کارونو ارزونه وسوه

د روان ۱۴۰۱ ل. کال حمل میاشتي په ۲۹ مه نېټه د دوشنبي په مازدیگر د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي کلینیک څانگي آمر ښاغلي ډاکټر محمد ایمل رحیمي او تدریسي مدیر ښاغلي جاوید احمد عمران په سیدال معالجوي روغتون کي د طب پوهنځي اتم سمسټر محصلانو د عملي کارونو ارزونه ترسره کړه. په ارزونه کي د صنفونو د وضعیت څرنگوالی، د محصلانو له عملي کارونو څخه د رضایت کچه، د محصلانو وړاندیزونه، ستونزي او غوښتني، د عملي کارونو د ترسره کېدو وضعیت او د محصلانو حاضري هغه موارد وو چي وارزول سول.




## ملاریا نړۍ والي ورځي په مناسبت معلوماتي سمینار ارائه سو

د دوشنبي (۱۴۰۱/۲/۵) په ورځ د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د یاد مرکز او طب پوهنځي د پلان له مخي د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر د اپرېل ۲۵ مه د ملاریا نړۍ والي ورځي په مناسبت د یادي موضوع اړوند مهم سمینار ارائه کړ.

سمینار د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سو، وروسته د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر سمینار را پیل کړ او د ملاریا ناروغۍ په اړه یې لاندي معلومات له گډون والو سره شریک کړل:

د ملاریا پېژندنه، په نړۍ کي د ملاریا د پېښو په اړه معلومات، د ملاریا په ناروغۍ د اخته کېدو لاري، د ملاریا له پاره د ودي چاپېریال، د ناروغۍ د سرایت عوامل او د مخنیوي لاري چاري یې.

په دې معلوماتي سمینار کي استادانو، اداري کارمندانو او د طب پوهنځي محصلانو گډون درلود.




## د وخت مدیریت سمینار ارائه سو

د روان ۱۴۰۱ ل. کال ثور میاشتي په ٦مه نېټه د سې شنبي په ورځ سهار لس بجي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د یاد مرکز د پلان له مخي د وخت مدیریت معلوماتي دوه ساعته سمینار د ښاغلي دوکتور امیر زیب یوسفزي له خوا استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو ته ارائه سو. سمینار د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز آمر ښاغلي نېک محمد رازمل په تلاوت پیل سو. وروسته د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې عمومي رئیس ښاغلي پوهنیار عبدالمالک نیازي پیلزه خبري وکړي او د ښاغلي دوکتور یوسفزي لنډه پېژندنه یې له گډون والو سره شریکه کړه. ښاغلي دوکتور امیر زیب یوسفزی دریځ ته دعوت سو او نوموړي د وخت مدیریت اړوند خپل را ټول کړي معلومات په نظري او عملي بڼه له گډون والو سره شریک کړل، د گډون والو نظریات یې واخیستل او د دوو ساعتونو په بهیر کي یې د وخت مدیریت په اړه مهم معلومات وړاندي کړل. په پای کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې عمومي رئیس ښاغلي دوکتور یوسفزي ته ډالۍ ورکړه او له هڅو څخه یې مننه وکړه.




## د څېړنیزې مقاله لیکني ورکشاپ پای ته ورسېد

د څېړنیزې مقاله لیکني درې ورځنی ورکشاپ چي د روان ۱۴۰۱ ل. کال ثور میاشتي په ۲۷ مه نېټه د سې شنبي په ورځ د مسلکي پرمختیایي مرکز د پلان له مخي د طب پوهنځي استاد ښاغلي پوهنمل ډاکټر محمد هارون ستانکزي په مرسته پیل سوی و د پنجشنبي (۱۴۰۱/۲/۲۹) په ورځ پای ته ورسېد. په یاد درې ورځني ورکشاپ کي د څېړنیزي مقاله لیکني په هره برخه مفصل معلومات وړاندي سول، نموني یې وکتل سوې، د شریک سوو معلوماتو په برخه کي عملي کارونه ترسره سول. په ورکشاپ کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هیئت، استادانو، اداري کارمندانو او د دواړو پوهنځیو محصلانو گډون درلود چي په پای کي روزونکي ته د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له خوا مننلیک ورکړل سو او گډون والو ته د حاضري له مخي تصدیق پاڼي ووېشل سوې.




## د اکاډمیکو چارو د نظارت او ارزوني هیئت ارزونه پای ته ورسېده

د روان ۱۴۰۱ ل. کال ثور میاشتي په ٢٦ مه نېټه د دوشنبي په ورځ تر غرمي مخکي د لوړو زده کړو وزارت د اکاډمیکو چارو د نظارت او ارزوني ریاست له خوا د ټاکل سوي درې کسیزه هیئت هر یو محترم قاضي عبدالباري غفاري د خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو او پوهنتونونو د لیسانس برنامو د اکاډمیکو چارو د نظارت او ارزوني آمر، محترم قاري مستقیم نظامي د قوانینو او مقرراتو د تطبیق کارپوه، محترم پوهنمل احمد الله هلالي د کندهار پوهنتون علمي شورا کادري غړی د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي له اکاډمیکو چارو څخه ارزونه ترسره کړه. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې علمي مرستیال ښاغلی عبدالرحمن سعید، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رئیس ښاغلی امین الله سالک، د کیفیت تضمین او لوړاوي آمر ښاغلی صبغت الله مسرور هغه کسان وو چي د هیئت سره یې ملتیا کوله.

ارزونه تر غرمي مخکي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په ریاست کي پیل سوه. په پیل کي نوموړي هیئت د چک لیسټ مطابق ټول موارد له مسؤل کسانو څخه وغوښتل، هر سند یې په دقیق ډول وکاته، د کتلو پر مهال یې خپلي سپارښتني له مسؤلو کسانو سره شریکي کړي او د مسؤلو کسانو خبري یې واورېدې. تر لنډې وقفي وروسته مؤظف هیئت د مسلکي پرمختیایي مرکز له تالار، د کیفیت ارتقا او لوړاوي آمریت، ژبو مرکز، څېړنیز مرکز، مناظرې کلب، حقوقي کلینیک، درسي صنفونو، عمومي کتابتون او کمپیوټر لب څخه لیدنه وکړه. په پای کي یې د مؤسسې له مسؤلینو سره د ځینو ټکو په اړه خبري وکړي، د مؤسسې موجوده حالت یې غوره وباله او وې ویل چي ډېر ژر به د ارزوني نتیجه له مؤسسې سره شریکه کړي.



## د امام ابوحنیفه رحمه الله د سیرت په اړه سیمنار دائر سو

د روان ۱۴۰۱ ل. کال ثور میاشتي په ٢٦ مه نېټه د دوشنبي په ورځ د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د یاد مرکز د پلان له مخي د مؤسسې عمومي رئیس ښاغلي پوهنیار عبدالمالک نیازي په مرسته د امام ابوحنیفه رحمه الله د شخصیت په اړه معلوماتي سمینار ارائه سو. د یاد دوه ساعته سمینار په پیل کي تلاوت وسو. وروسته ښاغلی پوهنیار عبدالمالک نیازي سمینار را پیل کړ او په لاندي موضوعات یې له گډون والو سره تفصیلي معلومات شریک کړل: - د امام صاحب پېژندنه، علمي سفرونه، تجارت او نفاست، حمیده اخلاق، ذکاوت او هوښیاري او د نورو علماؤ له نظره د امام صاحب شخصیت

په سمینار کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هیئت، استادان، اداري کارمندان، محصلان او باندنیو مېلمنو گډون درلود چي په پای کي یې خپلي پوښتني وکړي او مناسب جوابونه ورکړل سول.




## د ۲۱ کانکور کامیابو محصلانو ته د پوهنتون پېژندنې غونډې دائرې سوې

په دوو جلا وختونو (سهار او ماپښین) کې د ۲۱ کانکور له لارې د طب، حقوقو، سیاسي علومو او نړی والو اړیکو تحصیلي څانګو ته د کامیابو محصلانو له پاره د پوهنتون پېژندنې او ښه راغلاست غونډې پرون چهارشنبه (۱۴۰۱/۲/۲۸) د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کې دائرې سوې.

د یادو غونډو پلان د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز له لوري ترتیب سوی و. اوله غونډه د نجونو له پاره په سهار دوره کې وه چې د ښاغلي نېک محمد رازمل په تلاوت پیل سوه او ورپسې د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید محصلانو ته د تعلیمي او تحصیلي دورې په توپیرونو اغېزناکه خبرې وکړې او د پوهنتوني کلتور په اړه یې لازمي سپارښتنې بیان کړې. تر هغه وروسته د محصلانو چارو مرستیال ښاغلي محمد الیاس کریمي په لاندې موضوعاتو له محصلانو سره مفصل معلومات شریک کړل: د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې پېژندنه، د مؤسسې اداري جوړښت، د مهمو طرزالعملونو مهم نکات، د تحصیلي دورې اړوند د محصلانو ستونزې، د لارښود کتاب پېژندنه، د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز پېژندنه.

دوهم مجلس ماپښین د هلکانو له پاره دائر سو چې پورته معلومات له دوی سره هم په تفصیلي بڼه شریک سول او په پای کې د دواړو دورو ګډون کوونکو ته د مؤسسې له خوا د محصلانو له پاره چاپ سوی لارښود کتاب ورکړل سو تر څو د مؤسسې او پوهنځیو له ټولو معلوماتو څخه خبر کړل سي.



## وبینار ارائه سو

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د غونډو په تالار کې د روان ۱۴۰۱ل. کال ثور میاشتې په ۲۹مه نېټه د نصاب جوړونې، بیا کتنې او پراختیا په اړه د OBE & SCL ماسټر ټرېنر ښاغلي پوهنمل خلیل الله توحید یار په مرسته وبینار ارائه سو. یاد وبینار د برېښنایي زده کړو کمېټې او د مسلکي پرمختیایي مرکز د پلان له مخې سهار اته نیمې بجې د ګوګل مېټ له لارې پیل او لس بجې پای ته ورسېد. د دې وبینار د موضوعاتو په لړ کې د دې په بحث وسو چې نصابونه څنګه جوړ سي؟ د بیا کتنې پړاوونه یې کوم دي او څنګه کولای سو چې د نصاب پراختیا له پاره عملي ګامونه اوچت کړو؟

په یاد وبینار کې د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي نصاب کمېټې غړو، د پوهنځیو د نصاب کمېټو غړو، استادانو او اداري کارمندانو ګډون درلود. د وبینار ارزونه د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید وکړه، له ښاغلي توحید یار یې مننه وکړه، یاده چاره یې ګټوره وبلله او د پراختیا په موخه یې خپلې خبرې له ګډون کوونکو سره شریکې کړې.



# خبري بولټن

**خپرونکی: ملالی د لوړو زده کړو مؤسسه**
**درېیم پر له پسې کال**
**د ۱۴۰۱ ل. کال درېیمه ګڼه**
**جوزا میاشت**

## تمثیلي محکمه دائره سوه

د روان ۱۴۰۱ل. کال جوزا میاشتې په ۱۵ مه نېټه د یکشنبې په ورځ د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، حقوق څانګې په مرسته د تمثیلي محکمې په تالار کې تمثیلي محکمه دائره سوه.

د تمثیلي محکمې تر پیلېدو مخکې ښاغلي عمران غر وال پیلیزه وینا وکړه او د عملي کارونو په برخه کې یې تمثیلي محکمې ګټوري وبللې. وروسته تمثیلي محکمه پیل سوه او ټول پړاوونه یې پر له پسې مخته یووړل سول.

په دې مجلس کې د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هیئت، استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو ګډون درلود.




## د نشه یي توکو سره د مبارزې تر سرلیک لاندې فوټبال ټورنمنټ پیل سو

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو چارو معاونیت، محصلانو انسجام او خدماتو مرکز ورزش کمېټې د پلان له مخې د دوشنبې (۱۴۰۱/۳/۹) په ورځ د نشه یي توکو سره د مبارزې تر سرلیک لاندې د دواړو پوهنځیو محصلانو د فوټبال ټورنمنټ رسماً پرانیستل سو. په پیل کې د کلام الله مبارک آیتونه تلاوت سول. ورپسې د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید پیلزه وینا وکړه او یاد ټورنمنټ یې د محصلانو بدني روزنې په برخه کې مهم وباله. تر هغه وروسته د رهبري هیئت او محصلانو له خوا د ټورنمنټ پرانیستنه وسوه او لوبې یې پیل سوې.

د یادوني وړ ده چې ټورنمنټ به درې اونۍ دوام ولري، په پیل کې به 12 لوبډلې په ناک اوټ شکل له یو بل سره لوبېږي او شپږ لوبډلې به ګروپي پړاو ته لاره مومي.



## له افغان ارتقاء مشورتي مرکز سره تفاهم لیک لاسلیک سو

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې او افغان ارتقاء مشورتي مرکز ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم لیک د روان ۱۴۰۱ل. کال جوزا میاشتې په ۳ مه نېټه د سه شنبې په ورځ لاسلیک سو.

د یاد تفاهم لیک طرحه د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو چارو معاونیت تر چتر لاندې د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز او د افغان ارتقاء مشورتي مرکز په هلو ځلو جوړه سوې وه چې د محصلانو چارو مرستیال ښاغلي الیاس کریمي او د افغان ارتقاء مشورتي مرکز استازي ښاغلي توریالي کارمران له خوا لاسلیک سوه. د یاد تفاهم له مخې به دواړه لوري په کار موندلو، مشورو ورکولو او ځینو نورو برخو کې له یو بل سره قانوني همکاري کوي.



# خبري بولټن

**خبرونکی: ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه**


دربيم پر له پسي کال

د ۱۴۰۱ ل. کال څلورمه گڼه

سرطان مياشت

## اناټومي مضمون اخيستل سوې تحريري ازمويني پايلي اعلان سوې

د طب پوهنځي ازموينو کمېټې د پرېکړې له مخي د تېري پنجشنبې په ورځ (۱۴۰۱/۴/۲) د اناټومي مضمون له پاره اخيستل سوې رقابتي تحريري ازمويني پايلې پرون شنبه (۱۴۰۱/۴/۴) د مسلکي پرمختيايي مرکز په تالار کي اعلان سوې. غونډه د کلام الله په مبارکو آيتونو پيل سوه. د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد محصلان وهڅول چي په دې ډول سياليو کي خپل گډون ډېر کړي. د طب پوهنځي مرستيال د ياد فعاليت په څرنگوالي بحث وکړ او د ازموينو کمېټې څخه يې مننه وکړه. وروسته د طب پوهنځي استاد ښاغلي ډاکټر محمد ايمل رحيمي د پروسې په تخنيکي اړخونو ورغېد او محصلان يې وهڅول. ورپسي په ترتيب اول، دوهم، دربيم او څلورم مقام گټوونکو ته د مؤسسې له خوا ستاينليکونه او ډالۍ ورکړل سوې او مجلس پای ته ورسېد



## د ژبو مرکز زده کوونکو ته د ډاډ او بېري په اړه معلوماتي سمينارونه دائر سول

د ژبو مرکز آمر ښاغلي امين الله رامين له خوا د انگليسي ژبي زده کوونکو ته په بېلابېلو وختونو کي د ډاډ او بېري په اړه معلوماتي سمينارونه د روان ۱۴۰۱ ل. کال سرطان مياشتې په ۴ مه نېټه د دوی په صنفونو کي ارائه سول.

د سمينارونو موخه دا وه تر څو د ژبو مرکز زده کوونکي وکولای سي د ستيج په سر خبري وکړي، د خبرو کولو مهارتونه زده کړي، په ډاډ سره خبري وکړي او خپله بېره مديريت کړي.




د ډاډ او بېري په اړه معلوماتي سمينار — شنبه - ۱۴۰۱/۴/۴

## د ميراث علم پېژندني ورکشاپ پای ته ورسېد

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختيايي مرکز د پلان له مخي د روان ۱۴۰۱ ل. کال سرطان ميشات په ۴ مه نېټه د ياد مرکز په تالار کي د ميراث علم پېژندني درې ورځنی ورکشاپ د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاد ښاغلي عبدالرحمن اڅکزي په مرسته پيل سوی چي د همدي مياشتې په ٦ مه نېټه د دوشنبې په ورځ پای ته ورسېد.

د پای غونډه د کلام الله په مبارکو آيتونو پيل سوه. د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد له روزونکي، مسلکي پرمختيايي مرکز او گډون والو څخه مننه وکړه چي ياد ورکشاپ کي يې گډون وکړ. تر هغه وروسته ټولو گډون والو ته د حاضري مطابق تصديق پاڼي ووېشل سوې، روزونکي ته د مؤسسې له خوا منليک ورکړل سو او غونډه د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.

په ياد درې ورځني ورکشاپ کي د ميراث حقوق اړوند په مهمو موضوعات علمي بحثونه وسول او ترڅنگ يې عملي کار هم ترسره سو.




ميراث علم پېژندني درې ورځنی ورکشاپ — دوشنبه- ۱۴۰۱/۴/۶

## د ۱۴ مي دورې د مونوگرافونو ارائه غونډې پيل سوې

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د دواړو (اداره - ډيپلوماسي او قضاء او څارنوالي) څانگو د ۱۴ مي دورې د مونوگرافونو ارائه غونډې د يکشنبې په ورځ (۱۴۰۱/۴/۵) د حقوقي کلينيک په تالار کي پيل سوې. د غونډې پيل د کلام الله په مبارکو آيتونو وسو. د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد په ټولنه کي د څېړنو په ارزښت مهمي خبري وکړي. د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي مرستيال ښاغلي احمد رسول سيدي هم د څېړنو په اهميت، ارزښت او د کاروني په برخو مهمي خبري وکړي. د سياسي علومو او نړۍ اړيکو څانگي آمر ښاغلي شجاع آرين د مونوگرافونو په تخنيکي اړخونو معلومات وړاندي کړل. تر هغه وروسته د محصلانو له خوا د مونوگرافونو ارائې د درې کسيزه ژوري هيئت په وړاندي پيل سوې.

د يادوني وړ ده چي له حقوقو او سياسي علومو پوهنځي څخه څه باندي 50 کسان به د دوو اونيو په بهير کي هره ورځ له خپلو څېړنيزو مونوگرافونو څخه دفاع وکړي.




## تمثيلي محکمه دائره سوه

د روان ۱۴۰۱ل. کال سرطان مياشتي په ۱ نېټه د چهارشنبې په ورځ د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي، حقوق څانگي په مرسته د تمثيلي محکمي په تالار کي تمثيلي محکمه دائره سوه. د تمثيلي محکمي تر پيلېدو مخکي ښاغلي عمران غر وال پيليزه وينا وکړه او د عملي کارونو په برخه کي يې تمثيلي محکمي گټوري وبللي. وروسته د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد د عملي کارونو په ارزښت خبري وکړي. له هغه وروسته تمثيلي محکمه پيل سوه او ټول پړاوونه يې پر له پسي مخته يووړل سول. په دې مجلس کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هيئت، استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو گډون درلود.



## مناظرې کلب کي د محصلانو پېنل دائر سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي سياسي علومو او نړۍ والو اړيکو څانګي د پلان له مخي تېره پنجشنبه (۱۴۰۱/۴/۲) د مناظرې په کلب کي د همدي څانګي د محصلانو پېنل دائر سو. د پېنل موضوع «په وقاص دفاعي تړون کي د امريکا متحده ايالاتو ګټي او د چين زيانونه» تر سرليک لاندي وه. څلور کسانو په ياده موضوع خبري وکړي. ښاغلي جميل احمد د موضوع پېژندنه بيان کړه. ښاغلي اکرم په تړون کي د امريکا په ګټو خبري وکړي. ښاغلي عتيق الله د چين زيانونه بيان کړل. د پېنل ارزونه د څانګي آمر ښاغلي شجاع آرين له خوا وسوه او پېنل پای ته ورسېد.



## تطبيقي راپورونه او پلانونه ارائه سول

د روان ۱۴۰۱ ل. کال سرطان مياشتي له ۴ مي نېټي څخه تر ۷ مي نېټي پوري د کيفيت تضمين او لوړاوي آمريت د پلان له مخي د مسلکي پرمختيايي مرکز په تالار کي د تطبيقي پلان لومړۍ ربعي راپورونه، د دوهمي ربعي پلانونه او د عملياتي پلانونو راپورونه ارائه سول. د مؤسسې عمومي رياست، د علمي چارو معاونيت، مالي او اداري معاونيت، محصلانو چارو معاونيت، د طب پوهنځي رياست، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي رياست، د حقوقو څانګه، سياسي علوم او نړۍ والو اړيکو څانګه، د ژبو مرکز آمريت، حقوقي کلينيک آمريت، مسلکي پرمختيايي مرکز آمريت، تضمين کيفيت او لوړاوي آمريت، محصلانو انسجام او خدماتو مرکز آمريت هغه اداري واحدونه وو چي د ۱۴۰۱ ل کال تطبيقي پلان اولي ربعي راپورونه او د دوهمي ربعي پلانونه يې د خپل مهالوېش مطابق ارائه کړل.




## د بدني تلاشي کولو تکتيک او مېتود تمثيل ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګي اتم سمستر محصلانو تېره سه شنبه (۱۴۰۱/۴/۷) د بدني تلاشي کولو تکتيک او مېتود تمثيل ارائه کړ. ياد تمثيل د جزايي اجراأتو او محاکماتو اصولو مضمون د عملي کار په موخه د ياد پوهنځي استاد ښاغلي خدای نور شريف زي په مرسته د مؤسسې په انګړ کي ارائه سو چي دوو تنو محصلانو د پوليسو او دوو تنو د مظنونانو رولونه پکښي اداء کړل . پوليسو د خپلو اصولو او تکتيکونو له مخي مظنونان تلاشي کړل.

د يادوني وړ ده چي تر دې تمثيل مخکي ټول اصول او مېتودونه محصلانو ته ور ښوول سوي وو او دوی ننداري ته وړاندي کړل.



## د جرم صحني او جرمي آثارو ساتني تمثيل ارائه سو

د روان ۱۴۰۱ل. کال سرطان مياشتي په ۸ مه نېټه د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې، حقوق او سياسي علومو پوهنځي حقوقي کلينيک د پلان له مخي د مؤسسې په انګړ کي د ياد پوهنځي حقوق څانګي شپږم سمستر محصلانو په مرسته د جرم صحني او جرمي آثارو ساتني تمثيل وړاندي سو.

د تمثيل تر پيل مخکي د حقوقي کلينيک آمر ښاغلي عمران غروال د ياد بهير په اړه ګډون والو ته معلومات ورکړل، پړاوونه يې ور وپېژندل او د ځينو ټکو مراعاتولو سپارښتني يې ورته وکړي.

تر هغه وروسته د جرم صحني تمثيل او د جرمي آثارو حفظول د حقوقو څانګي استاد ښاغلي خدای نور شريف زي په مرسته په دې ترتيب اجرا سول: د جرم له صحني څخه اطلاع ورکول، د بررسي ټيم خبرول، د بررسي ټيم له خوا د وظايفو وېشل، جرمي صحنه مشخصول او لومړني تدابير نيول، د مشاهدي او مصاحبي له لاري د معلوماتو را ټولول، کورکي رسمول، له جرمي صحني څخه انځورونه اخيستل، جسد عدلي طب ته نقلول

د ياد تمثيل په بهير کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو حضور درلود او ټول پړاوونه يې له نږدي وليدل.



## د شرعي حقوقي نظام او دفاع وکالت اړوند مشارکتي مجلس دائر سو

د ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسې حقوقي کلينيک له خوا د شرعي حقوقي نظام او دفاع وکالت د اهميت تر سرليک لاندي مشارکتي مجلس د کندهار ولايت محاکمو قضاتو، استيناف څارنوالي، عدليې رياست او د غير دولتي مؤسساتو په ګډون د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د غونډو په تالار کي دائر سو. په ياد مجلس کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هيئت، استادانو، د عدليي رياست نماينده ګانو، د کندهار پوهنتون استادانو، مدافع وکيلانو، د سره صليب (ICRC) مؤسسې نماينده، د ILF مؤسسې نماينده، د UNAMA نماينده او د VWO مؤسسې نماينده برخه اخيستي وه. مجلس د کلام الله په مبارکو آيتونو را پيل سو. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې علمي چارو مرستيال او سر پرست رئيس ښاغلي عبدالرحمن سعيد پيليزه وينا وکړه او د شرعي عدلي نظام په څرنګوالي، د عدالت په تطبيق کېدو او دفاع وکالت اړوند يې مهمي خبري وکړي. د حقوقي کلينيک آمر ښاغلي محمد عمران غروال د حقوقي کلينيک پر تاريخچه، اهميت او اهدافو خبري وکړي. د کندهار پوهنتون استاد ښاغلي حکمت الله ملکي د مدافع وکيل رول په اړه مهمي خبري وکړي. ورپسي د اجنډا مطابق مدافع وکيل او د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې استاد ښاغلي احمد نور منتظر په تېر او اوسني نظام کي د مدافع وکيلانو په وضعيت بحث وکړ. ورپسي د ILF, UNMA,ICRC VWO مؤسساتو نماينده ګانو په شرعي عدلي نظام کي د عدالت پر اهميت او د مدافع وکيلانو په وړاندي د ستونزو حلېدو اړوند بحث وکړ. د مجلس په پای کي د عدليې رياست څخه د راغلي نماينده ګانو د حقوق آمر ښاغلي مولوي الله داد او پردل محمدي په شرعي نظام کي د عدالت پر قايمېدو او اهميت په اړه خبري وکړي. د مجلس ګډون والو د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې دا اقدام وستايه او مجلس د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېد.



## علمي شورا دائره سوه

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د شورا ګانو او کمېټو د مهالوېش له مخي د مؤسسې علمي شورا درېيمه غونډه د روان ۱۴۰۱ ل. کال سرطان مياشتي په دوهمه نېټه د پنج شنبې په ورځ د غونډو په تالار کي دائره سوه. په پيل کي عمومي رياست خپل راپور له ګډون والو سره شريک کړ. تر هغه وروسته په ترتيب د علمي چارو معاونيت، محصلانو چارو معاونيت، مالي او اداري چارو معاونيت، طب پوهنځي رياست او حقوقو پوهنځي رياست خپل مياشتني راپورونه له ګډون والو سره شريک کړل. د دې تر څنګ د عمومي کمېټو راپورونه ارائه سول. ځيني پرېکړي يې په مجلس کي مطرح سوې او په ځينو نورو مهمو موضوعات بحثونه وسول. د مجلس په پای کي د استخدام کمېټي د پرېکړي مطابق د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي له پاره ښاغلی محمد هاشم حسرت د رئيس په توګه او ښاغلی احمد رسول سيدي د مرستيال په توګه وټاکل سول.



# خبري بولټن

**خپرونکی: ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه**

درېیم پر له پسې کال

د ۱۴۰۱ ل. کال پنځمه ګڼه

اسد میاشت

## کندهار پوهنتون سره تفاهم لیک لاسلیک سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې او کندهار پوهنتون ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم لیک نن دوشنبه (۱۴۰۱/۵/۱۰) د کندهار پوهنتون د غونډو په تالار کي لاسلیک سو. په پیل کي د کندهار پوهنتون رئیس پوهنوال ډاکټر محمد زکریا امیر زاده له خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو سره د تفاهم لیکونو په اړه خبري وکړي. وروسته د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې علمي چارو مرستیال او سرپرست رئیس ښاغلي عبدالرحمن سعید وینا وکړه. نوموړي له کندهار پوهنتون څخه له منني وروسته د ډېرو مرستو غوښتنه وکړه او ډاډ یې ورکړ چي د تفاهم لیک ټولو برخو ته به ژمن پاتي کېږي. ورپسي د کندهار پوهنتون رئیس ښاغلي امیر زاده، د لوړو زده کړو وزارت فوق العاده استازي او د کندهار پوهنتون مالي او اداري مرستیال انجینر محمد ناصر نېکزاد او د علمي چارو معاون ښاغلي سعید ترمنځ تفاهم لیک لاسلیک سو. د یادوني وړ ده چي په یاد مجلس کي د کندهار ولایت د ټولو خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو استازو ګډون درلود.



## د مور له شیدو د ماشوم تغذیه کولو اونۍ معلوماتي سمینار ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د یاد مرکز د پلان له مخي او د طب پوهنځي په مرسته د یکشنبي په ورځ (۱۴۰۱/۵/۱٦) د مور له شیدو د ماشوم تغذیه کولو اونۍ معلوماتي سمینار د طب پوهنځي استاد او په میرویس حوزوي روغتون کي د ماشومانو په څانګه کي د تخصص ټریني ښاغلي ډاکټر حیات الله حبیبي او د طب پوهنځي رئیس ښاغلي احمد شاه عمر له خوا وړاندي سو. ډاکټر حبیبي خپل چمتو کړي معلومات له ګډون والو سره شریک کړل. نوموړي د مور له شیدو د ماشوم تغذیه کولو په صحي ګټو مهمي خبري وکړي، د ګډون والو پوښتنو ته یې جوابونه وویل. له هغه وروسته د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر د دې اونۍ په مناسبت خپل چمتو کړي معلومات له ګډون والو سره شریک کړل او د مور شیدو په بېلابېلو صحي ګټو یې رڼا واچوله.  د سمینار په پای کي د علمي چارو مرستیال او د مؤسسې سرپرست رئیس ښاغلي عبدالرحمن سعید د مور شیدو ارزښت د اسلام په رڼا کي واضح کړ. نوموړي د مور شیدو اړوند د امام ابوحنیفه استدلال واضح کړ چي ولي باید ماشوم ته دېرش میاشتي د مور شیدي ورکړل سي.  سمینار د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېد.



## د نړۍ وال بشر دوستانه قانون پېژندني ورکشاپ پای ته ورسېد

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د دوشنبي (۱۴۰۱/۵/۱۰) په ورځ د Genva Call مؤسسې د پلان له مخي د نړۍ وال بشر دوستانه قانون پېژندني درې ورځنی ورکشاپ د ښاغلي دوکتور شاه فیصل سادات په تدریس پیل سوی و پرون چهارشنبه پای (۱۴۰۱/۵/۱۲) ته ورسېد. د ورکشاپ په پای کي د جېنوا کال مؤسسې د دفتر اجرائیوي مرستیال ښاغلي حسن محمود د خپلي وینا په ترځ کي د مؤسسې له رهبري مننه وکړه. د علمي چارو مرستیال او سرپرست رئیس ښاغلي عبدالرحمن سعید د ورکشاپ له پایلي خوښي څرګنده کړه او د دې ډول پروګرامونو ډېرېدل یې د مؤسسې له پاره ګټور وبلل. تر هغه وروسته د مؤسسې له خوا د ورکشاپ ټرینر او همکار ته یې منندیکونه ورکړل سول. ورپسي د حاضري مطابق ټولو ګډون والو ته تصدیق پاڼي ووېشل سوې او مجلس پای ته ورسېد.

یاد ورکشاپ درې ورځي و، د نظري موضوعاتو ترڅنګ یې ګډون والو ګروپي کارونه هم ترسره کړل او نورو سره یې شریک کړل.




د نړۍ وال بشر دوستانه قانون پېژندني ورکشاپ چهارشنبه - ۱۴۰۱/۵/۱۲

## د فراغت مراسم ترسره سول

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالي څانګي ۱۴ مي دورې فارغانو د سه شنبې په ورځ (۱۴۰۱/۵/۱۸) د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي له لیسانس تحصیلي دورې څخه د فراغت مراسم ولمانځل. د پیل وینا د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید وکړه، نوموړي خوښي وښوده چي یو ځل بیا ټولني ته د خدمت په موخه لسګونه مسلکي کادرونه معرفي کوي. ښاغلي سعید له استادانو او اداري کارمندانو هم مننه وکړه چي د فارغانو په مسلکیتوب کي یې خپلي هلي ځلي سپمولي نه دي. ورپسي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي مرستیال ښاغلي احمد رسول سیدي فارغانو ته د مبارکۍ ترڅنګ خوښي وښوده او زیاته یې کړه چي فارغان باید زده کړي په دې ځای بس نه کړي او د ماسټرۍ له پاره هلي ځلي را پیل کړي. د فارغانو له خوا د دوی نماینده صبغت الله احمدزي خبري وکړي. نوموړي له استادانو او کارمندانو مننه وکړه چي له دوی سره یې هر اړخیزه مرستي کړي دي، احمدزی زیاته کړه چي ټولني ته به کار کوي او د زده کړو بهیر ته به نور هم دوام ورکوي. مراسم د کیک په پرې کولو سره پای ته ورسېدل.




## کانکور واخیستل سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې ۲۲ کانکور تېره ورځ جمعه (۱۴۰۱/۵۲۱) د مؤسسې په انګړ کي له کندهار پوهنتون څخه د راغلي هیئت په حضور کي له سلګونو هغو کاندید محصلانو څخه واخیستل سو چي د طب، حقوقو، سیاسي علومو او نړۍ والو اړیکو له پاره یې نوم لیکني کړي وې. د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید د پیلیزې وینا په ترځ ګډون والو ته د کانکور شفافیت په اړه ډاډ ورکړ، دوی یې زده کړو ته وهڅول، د هر ډول تحصیلي خدماتو او امکاناتو ژمنه یې ورسره وکړه. له کندهار پوهنتون څخه د راغلي هیئت په استازیتوب د جنوب غرب زون له پاره د لوړو زده کړو وزارت ځانګړي استازي او د کندهار مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي محمد ناصر نېکزاد دریځ ته دعوت سو. نوموړي د اسلامي امارت په استازیتوب ټولو ګډون والو ته د هر ډول همکاریو ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چي اسلامي ام - - ارت له پخوا په دې برخه کي هلي ځلي کړي دي او خپل رسالت یې په ځای کړی دئ. د ازمویني پارچو بکس د دوو تنو محصلانو له خوا خلاص سو، د ازمویني هیئت او مسؤلینو فورمونه ګډون والو ته ووېشل او ازموینه رسمي پیل سوه. د یادوني وړ ده چي له عمومي ازمویني وروسته د سنبلي په څلورمه نېټه د جمعې په ورځ دوهم کانکور هم اخیستل کېږي. د اوسني کانکور نتایج به هم ژر اعلان سي.




پته: دوهمه عینو مېنه، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان. ویب پاڼه: www.malalay.edu.af برېښنالیک: info@malalay.edu.af فېسبوک او انسټاګرام: malalay.mihe ټویټر: malalayedu وټس اپ: 0703 300 634

## د اور وژني په اړه معلومات ارائه او عملي زده کړې يې ترسره سوه

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د مالي او اداري معاونيت د پلان له مخې د کندهار اطفائيې رياست د درې کسيزه ډلې په مرسته نن شنبه (۱۴۰۱/۵/۲۹) د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې استادانو، اداري او تخنيکي کارمندانو ته د اور وژني په اړه معلومات ارائه او د اور وژلو عملي زده کړه ورکړه سوه. په پيل کي د مؤسسې سرپرست رئيس او د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد راغلي هيئت ته ښه راغلاست ووايه او له دوی يې مننه وکړه چي له تحصيلي ارګانونو سره همکاري کوي. تر هغه وروسته د کندهار اطفائيې رياست مسؤل د اور وژني په اړه خپل معلومات له ګډون والو سره شريک کړل. تر هغه وروسته د مؤسسې په انګړ کي د ټولو ګډون والو په حضور کي د اطفائيې رياست مسؤل کس د اور وژلو عملي فعاليت ترسره کړ او ټولو ګډون والو ته د لازمو تدابيرو په اړه مهمي خبري وکړي.



## د خپلواکۍ بيا اخيستلو معلوماتي سمينار ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د مسلکي پرمختيايي مرکز د پلان له مخې او د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي په مرسته د شنبې په ورځ (۱۴۰۱/۵/۲۹) د خپلواکۍ بيا اخيستلو ۱۰۳مي کليزي او د انګرېزانو د ماتي په مناسبت د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استادانو هر يو ښاغلي مُحب الله شُبير او نصرت الله حبيب زي د مسلکي پرمختيايي مرکز په تالار کي معلوماتي سمينار ارائه کړ. د مؤسسې سرپرست رئيس او د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد د خپلواکۍ په ډولونو خبري وکړي، د انګرېزانو او روسانو په ماتو يې لنډ معلومات ارائه کړل او د خپلواکۍ ساتلو په اړه خپلي سپارښتني له ګډون والو سره شريکي کړي.

ښاغلي مُحب الله شُبير د غازي امان الله خان په پېژندنه، شخصيت او سفرونو بحث وکړ. د غازي سياسي، اقتصادي، رسنيز او کلتوري فعاليتونه يې واضح کړل. ښاغلي نصرت الله حبيب زي له خپلواکۍ اخيستلو وروسته په ځينو سياسي معاهداتو خبري وکړي، د غازي امان الله خان د حکومت نسکورېدو په عواملو يې خپل را ټول کړي معلومات له ګډون والو سره شريک کړل. د ګډون والو پوښتنو ته د وړاندي کوونکو له خوا جوابونه ورکړل سول او سمينار پای ته ورسېد.




## کندهار عدليې رياست سره تفاهم ليک لاسليک سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې او کندهار عدليې رياست ترمنځ د ګډو همکاريو تفاهم ليک د يکشنبې په ورځ (۱۴۰۱/۵/۳۰) لاسليک سو. په پيل کي د عدليې رياست رئيس الحاج مولوي سيد نور اغا هاشمي خبري وکړي، له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې يې مننه وکړه، له ديني اړخه يې د تحصيل په ګټو رڼا واچوله، د مدارسو او لوړو زده کړو مؤسساتو ترمنځ يې د يو والي اړوند مهمي خبري وکړي او د هر ډول مرستو ژمنه يې وکړه. عبدالرحمن سعيد د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئيس او د علمي چارو مرستيال له عدليې رياست څخه مننه وکړه، د تحصيل په ډګر کي يې د هر ډول مرستو ژمنه وکړه او وې ويل چي ياد تفاهم ليک ته به ژمن پاتېږي. تر هغه وروسته د تفاهم ليک متن د مجلس د ټولو ګډون والو په حضور کي قرائت سو او مجلس د دعا په ويلو سره پای ته ورسېد. ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه تر دې دمه له کندهار استيناف محکمې، کندهار پوهنتون، پوهني رياست، اناستو پوهنتون، کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست، عرفان ټولنيز بنسټ، کندهار نجم او لس ګونو نورو دولتي - غير دولتي، داخلي - خارجي بنسټونو سره د متقابلو همکاريو تواميتونه لاسليک کړي دي چي ياده پروسه به جاري وي.



## د سازماني شخړو معلوماتي سمينار ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د مسلکي پرمختيايي مرکز په تالار کي د تېري يکشنبې په ورځ (۱۴۰۱/۵/۳۰) د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي مرستيال ښاغلي احمد رسول سيدي له خوا د سازماني شخړو تر سرليک لاندي معلوماتي سمينار ارائه سو. مجلس د کلام الله په مبارکو آيتونو پيل سو. وروسته ښاغلي سيدي د سازماني شخړو د منځ ته راتګ، ډولونو، لاملونو، مثبتو او منفي اغېزو، حل لارو او ځينو نورو مهمو برخو اړوند ګټور معلومات له ګډون والو سره شريک کړل.

په مجلس کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هيئت، استادانو او اداري کارمندانو ګډون درلود.




## ۲۲ متفرقه کانکور واخيستل سو

د طب، حقوقو او سياسي علومو پوهنځيو له پاره تېره جمعه د روان ۱۴۰۱ ل. کال سنبلې مياشتي په ۴ مه نېټه ۲۲ متفرقه کانکور له کندهار پوهنتون څخه د راغلي پلاوي په حضور کي واخيستل سو.

مجلس د محصلانو انسجام او خدماتو چارو آمر ښاغلي نېک محمد رازمل له خوا د قرآن کريم په مبارکو آيتونو پيل سو. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئيس او د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد کانديد محصلانو ته ښه راغلاست ووايه، د کانکور په اړه يې مقدماتي خبري وکړي او کانديدانو ته يې ډاډ ورکړ چي د تحصيل له پاره يې غوره ځای ټاکلی دئ. وروسته د کانديد محصلانو په مرسته د پوښتنو بکس خلاص سو، پوښتني د استادانو او له کندهار پوهنتون څخه د راغلي پلاوي په مرسته ووېشل سوې. د محصلانو چارو مرستيال ښاغلي محمد الياس کريمي د ازمويني په اړه مهم ټکي له کانديد محصلانو سره شريک کړل. وروسته ازموينه پيل سوه او په ټاکلي وخت پای ته ورسېده. د ازمويني پايلي او د سمسټرونو د پيل په اړه به نور معلومات وروسته شريک کړل سي.



## علمي شورا دائره سوه

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د شورا ګانو او کمېټو د مهالوېش له مخې د مؤسسې علمي شورا پنځمه غونډه د روان ۱۴۰۱ ل. کال سنبلې مياشتي په دوهمه نېټه د څلور شنبې په ورځ د غونډو په تالار کي دائره سوه. په پيل کي د مؤسسې سرپرست رئيس او د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد د عمومي رياست او علمي چارو معاونيت مياشتي راپورونه له ګډون والو سره شريک کړل. ښاغلي سعيد زياته کړه چي کارونه د پلان مطابق مخته تللي او له پلان پرته ځيني نور مهم کارونه هم ترسره سوي دي چي بايد له ټولو کارمندانو مننه وسي. د مالي او اداري چارو مرستيال حبيب رسول سيدي د مالي، ساختماني او اداري چارو مياشتنی راپور ارائه کړ، د محصلانو مرستيال ښاغلي محمد الياس کريمي د محصلانو چارو او کانکور راپور شريک کړ، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي رئيس ښاغلي محمد هاشم حسرت او د طب پوهنځي رئيس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر د سمسټرونو د پيل په اړه د مضامينو د وېشلو، مهالوېشونو جوړولو او د پوهنځي د ترسره سوو کمېټو په اړه خپل راپورونه شريک کړل. د عمومي رياست له خوا د عمومي کمېټو په ځينو پرېکړو بحثونه وسول او پرېکړې يې تأئيد سوې. په غونډه کي د استخدام کمېټي له لاري د نوو استخدام سوو کارمندانو هر يو ښاغلی نذير احمد منتظر د نشراتو او فرهنګي چارو مدير او ښاغلی محمد يونس سليمان د طب پوهنځي کلينيک ځانګي آمر هم ګډون والو ته معرفي سول.



# خبري بولټن

## خپرونکی: ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه

درېیم پر له پسي کال

د ۱۴۰۱ ل. کال شپږمه ګڼه

سنبله میاشت

### جنوب غرب زون کي د دولتي او خصوصي پوهنتونونو له فعالیتونو او خدماتو مننه وسوه

د لوړو زده کړو وزارت د جنوب غرب زون د عالي تحصیلاتو مرکزي اداري د پلان له مخي دوشنبه (۱۴۰۱/۶/۷) د اطلاعات او فرهنګ ریاست د غونډو په تالار کي د جنوب غرب زون دولتي او خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو له علمي فعالیتونو او خدماتو څخه د یوې غونډي په ترڅ کي مننه وسوه. د غونډي په پیل کي د کلام الله مبارک آیتونه تلاوت سول. ورپسي د لوړو زده کړو وزارت له خوا د جنوب غرب زون له پاره فوق العاده استازي او د کندهار پوهنتون مالي او اداري مرستیال ښاغلي محمد ناصر نېکزاد پیلیزه وینا وکړه، ګډون والو ته یې ښه راغلاست وواېه او د پوهنتونونو ترمنځ یې د اړیکي په ډېر والي ټینګار وکړ. تر هغه وروسته د کندهار پوهنتون، اناستو پوهنتون، ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې، میرویس نیکه لوړو زده کړو مؤسسې، لمر لوړو زده کړو مؤسسې، بېنوا او سبا لوړو زده کړو مؤسسې استازو خبري وکړي او خپل کلني فعالیتونه یې له ګډون والو سره شریک کړل. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د تېر کال په لاسته راوړنو لنډي خبري وکړي، په علمي فعالیتونو یې رڼا واچوله او د ترسره سوو خدماتو راپور یې له ګډون والو سره شریک کړ. د غونډي په پای کي د جنوب غرب زون عالي تحصیلاتو عالي اداري له خوا د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د امتیاز څښتنانو ته منلیکونه ورکړل سول. همدارنګه د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له خوا ښاغلي محمد ناصر نېکزاد ته منلیک ورکړل سو او غونډه پای ته ورسېده.



### د کندهار یونما استازي له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه وکړه

د روان ۱۴۰۱ ل. کال سنبلې میاشتي په ۱۷ مه نېټه د پنج شنبې په ورځ د کندهار ولایت یونما دفتر د حقوقي برخي استازي Dr. Roman Nail له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه وکړه. په لیدنه کي د ښاغلي Nail سره د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال، د مؤسسې امتیاز څښتن، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رئیس او د حقوقي کلینیک آمر ملتیا کوله. د لیدني په پیل کي دواړو لورو د محصلانو په انټرنشیب، د استادانو د ظرفیت لوړوني له پاره د پروګرامونو په جوړولو او له حقوقي کلینیک سره د مرستو په کولو خبري وکړي. ورپسي د یونما استازي د مؤسسې له ټولو برخو څخه لیدنه وکړه او له موجوده امکاناتو او خدماتو یې خوښي څرګنده کړه، د دې ترڅنګ یې د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له رهبري سره د هر ډول مرستو ژمنه هم وکړه.



### څېړنیز راپورونه ارائه سول

د روان ۱۴۰۱ ل. کال سنبلې میاشتي په ۸ مه نېټه د سې شنبې په مازدیګر د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څېړنیز مرکز د پلان له مخي د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د څېړنیزو راپورونو د ارائه کولو غونډې پیل سوې او د سنبلې په ۱۴مه نېټه پای ته ورسېدې. د مهالوېش له مخي هره ورځ دوې څېړني/سروې ګاني د رهبري هیئت، استادانو او محصلانو په حضور کي ارائه کېدې، ګډون والو خپل سوالونه مطرح کول او د څېړونکو له خوا جوابونه ورکول کېدل. د پای په مجلس کي دوې وروستۍ څېړني ارائه سوې، تر ارائه کولو وروسته د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید د څېړنو وروستۍ ارزونه وکړه، ټولي څېړني یې د ټولني د خلکو په ګټه وبللې، استادان یې وهڅول او له څېړنیز مرکز څخه یې مننه وکړه. تر هغه وروسته ټولو څېړونو او سروې کوونکو ته د مؤسسې له خوا ستاینلکونه ووېشل سول او غونډه پای ته ورسېده.

په دې بهیر کي اووه بېلابېلي څېړني او دوې سروې ګاني د څېړونکو له خوا له ګډون والو سره شریکي سوې. د یادوني وړ ده چي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې تېر کال په خپله لومړۍ ګڼه علمي مجله کي اته څېړني او دوې سروې ګاني نشر او چاپ کړي. دا ځل هم پلان دی چي پورته ټولي څېړني او سروې ګاني په دوهمه ګڼه کي چاپ کړل سي.



### انګلیسي ژبي زده کوونکو ته نتایج پاڼي ورکړل سوې

د روان ۱۴۰۱ ل. کال سنبلې میاشتي په ۱۹ مه نېټه د شنبې په ورځ د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د ژبو مرکز انګلیسي ژبو څلورو بېلابېلو صنفونو زده کوونکو ته نتایج پاڼي د یوې غونډي په ترڅ کي ورکړل سوې. د انګلیسي ژبي Aim High سلسلې اول، دوهم، درېیم او Family Friends Two کتابونه د ژبو مرکز د پلان له مخي پای ته ورسېدل، له همدي کبله د یوې غونډي په ترڅ کي د هر صنف اول نمره، دوهم نمره او درېیم نمره ته د ژبو مرکز له خوا ستاینلیکونه ورکړل سول. د ژبو مرکز استاد ښاغلي عابد احمدي ته هم د مؤسسې له خوا ستاینلیک ورکړل سو.

د غونډي په ترڅ کي د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید ګډون والو ته هڅوونکي خبري وکړي، د محصلانو انسجام مرکز آمر ښاغلي نېک محمد رازمل ترنم وکړ، څو تنو زده کوونکو خپلې مقالي له ګډون والو سره شریکي کړې او د ګډون والو له خوا ډېر تشویق سول. د یادوني وړ ده چي د انګلیسي Aim High سلسلې د دې صنفونو له خلاصېدو سره سم نوي صنفونه پیل سول او نوم لیکنه یې د ژبو په مرکز کي روانه ده.



### د کندهار پوهنتون له سرپرست رئیس او علمي مرستیال سره ولیدل سول

پنجشنبه (۱۴۰۱/۶/۲۴) د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هیئت د کندهار پوهنتون له نوي سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي پوهنیار عبدالخالق چوپان سره د نوموړي په کار ځای کي ولیدل. د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید ښاغلي چوپان ته مبارکي وویله او ترڅنګ یې ترې وغوښتل چي په اکاډمیکو چارو کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سره په سوي توامیت کي همکاري وکړي. د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر هم د مبارکۍ ترڅنګ له ښاغلي پوهنیار عبدالخالق چوپان څخه غوښتنه وکړه تر څو د پوهنځیو ترمنځ د توامیت لاسلیکولو له پاره زمینه سازي وسي. تر څنګ یې د دواړو پوهنتونونو ترمنځ د محصلانو علمي سیرونه پیل او د یو بل له موجوده امکاناتو د محصلانو په کیفیت لوړولو کي استفاده وسي. ښاغلي چوپان د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له رهبري هیئت مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ چي کندهار پوهنتون به په هره برخه کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سره همکار پاته کېږي.



پته: دوهمه عینو مېنه، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان.
ویب پاڼه: www.malalay.edu.af
برېښنالیک: info@malalay.edu.af
فېسبوک او انسټاګرام: malalay.mihe
ټوېټر: malalayedu
وټس اپ: 0703 300 634

## د پاک چاپېریال په موخه د صفایۍ اشر وسو

شنبه (۱۴۰۱/٦/۲٦) د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د چاپېریال ساتني کمېټې د پلان له مخې د مؤسسې په انګړ کې د اداري کارمندانو او محصلانو په مرسته د صفایۍ اشر وسو.

په دې اشر کې د اداري کارمندانو ترمنځ د طب پوهنځي محصلانو هم ګډون درلود چې د مؤسسې چاپېریال بېلابېلې برخې یې پاکې کړې. د یادوني وړ ده چې ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه د کمېټو او شورا ګانو په لړ کې د چاپېریال ساتني کمېټه لري، یاده کمېټه خپل پلان او مهالوېش لري او د چاپېریال د پاک ساتلو ترڅنګ د چاپېریال ښکلا له پاره خپل فعالیتونه سر ته رسوي.



## د رسۍ کشي لوبې وسوې

پرون شنبه (۱۴۰۱/٦/۲٦) د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز د پلان له مخې د مؤسسې په لوبغالي کې د دوارو پوهنځیو محصلانو ترمنځ د رسۍ کشي لوبې وسوې.

په لوبه کې د دوارو پوهنځیو له خوا یوولس لوبډلو نوم لیکنه کړې وه. په درېیو پړاوونو کې یې یو د بل په وړاندې هرې لوبډلې دوې - دوې لوبې وکړې.

پای لوبې ته د طب پوهنځي دوولسم او د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي څلورم سمسترونه ووتل چې بریا د طب پوهنځي دوولسم سمستر وګټله او د لوبو کپ یې خپل کړ.

په لوبه کې د مؤسسې رهبري هیئت، استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو حضور درلود. تر لوبې مخکې له هر ټیم سره د رسۍ کشي اصول شریک سوي وو او د لوبو پر مهال هم د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي تدریسي مدیر ښاغلي نصیر احمد حامد له خوا یاد اصول ټولو ته شرحه سول.



## خپل علمي کور ته ښه راغلاست!

تر یاد سرلیک لاندې تېره دوشنبه (۱۴۰۱/٦/۲۸) د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کې د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز د پلان له مخې د ۲۲ کانکور کامیابو محصلانو ته د ښه راغلاست او پوهنتون پېژندني مراسم جوړ سول. مراسم د لوړو سمسترونو محصلانو له خوا نوو کامیاب سوو محصلانو ته د ښه راغلاست په ویلو او ګلانو ورکولو پیل سول. ورپسې محصلان مسلکي پرمختیایي مرکز ته لاړل او هلته د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید پیلیزه وینا ورته وکړه. ښاغلي سعید کامیابانو ته د مؤسسې د خدمتونو په اړه ډاډ ورکړ او د بریالیو محصلانو صفات یې ورته شرحه کړل. د مؤسسې امتیاز څښتن او د طب پوهنځي استاد ښاغلي ډاکټر خلیل احمد کاکړ محصلانو ته ښه راغلاست ووایه، تشویقوونکي خبرې یې ورته وکړې او غوښتنه یې ترې وکړه چې د مؤسسې نوم لکه څنګه چې لوړ دئ همداسې یې لوړ وساتي. د دې له پاره چې نوي محصلان ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه او خدمات یې سم وپېژني په دې اړه شپږ دقیقه یي ویډیو خپره سوه، ورپسې د محصلانو د روحیې لوړولو له پاره تشویقوونکي ویډیو خپره سوه او په یې د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر محصلانو ته هڅوونکي خبرې وکړې. د پروګرام دوهمه برخه د مؤسسې انګړ په شنه فضاء کې پیل سوه. په پیل کې له محصلانو څخه ذهني پوښتنې وسوې، سم جواب ورکوونکو ته ډالۍ ورکړل سوې، د تحصیل په اړه تمثیلي پارچه هم ارائه سوه او له هغه وروسته مجلس پای ته ورسېد.



د نوو محصلانو ښه راغلاست غونډه — دوشنبه - ۱۴۰۱/٦/۲۸

## د کیفیت تضمین او لوړاوي کمېټې پنځمه غونډه دائره سوه

د غونډو په تالار کې تېره ورځ (چهارشنبه - ۱۴۰۱/٦/۲۳) د کمېټو او شورا ګانو د مهالوېش له مخې د کیفیت تضمین او لوړاوي کمېټې پنځمه غونډه دائره سوه. د کلام الله مبارک آیتونو له تلاوت وروسته د آجنډا مطابق په ځینو مواردو بحثونه وسول او په اړه یې لازمي پرېکړې ونیول سوې. د سمسترونو د پیلېدو ارزونه، د سمسترونو اړین سمینارونه، د دوهمي ربعي د راپورونه ارائه کول، د علمي پروګرامونو د نیمګړو مواردو پوره کول هغه موضوعات وو چې په کمېټه کې بحثونه په وسول.



## آذان وړکتون او لېسې زده کوونکو له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه وکړه

نن چهارشنبه (۱۴۰۱/٦/۲۳) د آذان وړکتون پلاوي او شاګردانو د خپل علمي سیر په ترڅ کې له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه وکړه. د لیدني پیل د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کې وسو. د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید راغلو مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او د مؤسسې په اړه یې لنډ معلومات ورکړل. د آذان وړکتون مدیر ښاغلي نصیب الله پوپل دریځ ته دعوت سو، نوموړي د علمي سیر په ګټو لنډې خبرې وکړې او له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه یې د دې فرصت مهیا کولو په موخه مننه وکړه. ورپسې ځینو شاګردانو خپل چمتو سوي معلومات له ګډون والو سره شریک کړل. د پروګرام په دوهمه برخه کې د مؤسسې د دفتر آمر ښاغلي عبدالواسع هڅیال او د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رئیس ښاغلي محمد هاشم حسرت د آذان وړکتون پلاوی او شاګردان د مؤسسې په ټولو برخو وګرځول؛ شاګردانو د مؤسسې لابراتوارونه، کتابتون، مناظرې کلب، حقوقي کلینیک، کمپیوټر لب، تمثیلي محکمې تالار، درسي صنفونه، د مؤسسې بېلابېل مراکز او د لوبو میدانونه له نژدې وکتل او خپله خوښي یې د مؤسسې له رهبري سره شریکه کړه.



## د سمسترونو د ښه پیل په موخه مشورتي غونډه وسوه

د روان ۱۴۰۱ ل. کال سنبلې میاشتې په ١٦ـ مه نېټه د غونډو په تالار کې د سمسترونو د ښه پیل کولو، عملي کارونو، د محصل او پوهنتون ترمنځ د اړیکو ټینګولو د څرنګوالي په موخه مشورتي غونډه دائره سوه.

غونډه د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سوه. ورپسې د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید د سمسترونو د ښه پیل کولو په اړه خپل پلانونه له ګډون والو سره شریک کړل.

تر هغه وروسته د مؤسسې د امتیاز خاوند ښاغلي ډاکټر خلیل احمد کاکړ او د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر د عملي کارونو په ډېر والي، تفریحي پروګرامونو، ښه راغلاست غونډو او ځینو نورو مواردو مهم خبرې وکړې او خپل پلانونه یې له ګډون والو سره شریک کړل.

د دې ترڅنګ د مؤسسې ټولو استادانو او اداري کارمندانو د سمسترونو د ښه پیل کولو، د عملي کارونو په ډېر والي، د ستاینغونډو او فراغت غونډو په ډېرېدو او د محصلانو له پاره د روزنیزو کورسونو په زیات والي خپلې طرحې له ګډون والو سره شریکې کړې.

د مسؤل کسانو له خوا ټولې طرحې نوټ کړل سوې او د رهبري هیئت له خوا یې د عملي کولو ډاډ ورکړل سو او غونډه پای ته ورسېده.



# خبري بولټن

**خپرونکی: ملالی لوړو زده کړو مؤسسه**

**دربیم پر له پسي کال**

**د ۱۴۰۱ ل. کال اوومه ګڼه**

**میزان میاشت**

## د ښوونکي ورځ ولمانځل سوه

د میزان ۱۳مه د ښوونکي نړۍ واله ورځ د روان ۱۴۰۱ل. کال میزان میاشتي په ۱۳مه نېټه د چهارشنبې په ورځ د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې په انګړ کي د نشراتو او فرهنګي چارو آمریت د پلان له مخي ولمانځل سوه.

غونډه د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سوه، د استادانو په استازیتوب د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید د ښوونکي مقام، ارزښت، اهمیت او په نړۍ کي د ښوونکي په اغېز مهمي خبري وکړې او استادانو ته یې مبارکي ووېله. د ښوونکي مقام ته د درناوي له پاره د طب پوهنځي محصل محمد هاشم هاشمي لنډه او اغېزناکه مقاله چمتو کړې وه چې له لوستلو وروسته یې د ګډون والو له خوا تشویق سو.

دا چې په اسلام او نړۍ کي د ښوونکي مقام څه دئ په دې اړه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصل حمید الله ماشوري مهم معلومات چمتو کړي وو او په خپل نوبت یې له ګډون والو سره شریک کړل.

مجلس د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز آمر ښاغلي نېک محمد رازمل په ښکلي ږغ لا رنګین سو. نوموړي د مُعلم په اړه په زړه پوري ترنم وکړ. د ښوونکي ورځې په مناسبت ځانګړی کیک آماده سوی و چې د طب، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځیو استادانو په مرسته پرې کړل سو. د مجلس په وروستیو شېبو کي د دواړو پوهنځیو استادانو ته د مؤسسې او محصلانو له خوا چمتو سوې ډالۍ ورکړل سوې او مجلس د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېد.



## د مهارتونو کلب Skill Lab پرانیستل سو

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي د پلان له مخي د مهارتونو کلب یا Skill Lab دوشنبه (۱۴۰۱/۷/۱۹) د مؤسسې رهبري هیئت او د محصلانو له خوا پرانیستل سو. یاد کلب په مجهزو طبي وسایلو سمبال دئ او له دې وروسته محصلان کولای سي په دې ځای کي د جراحي اساساتو او ځینو نورو مضامینو عملي کارونه پکښي سرته ورسوي.



## د Soft Skills لس ورځنی پروګرام پای ته ورسېد

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز او محصلانو انسجام او خدماتو مرکز د پلان له مخي شنبه د روان ۱۴۰۱ ل. کال میزان میاشتي په نهمه نېټه د کاري مهارتونو یا Soft Skills لس ورځنی پروګرام پیل سوی و چې پرون چهارشنبه (۱۴۰۱/۷/۲۰) پای ته ورسېد.

د پروګرام په لسو ورځو کي د ښلابېلو مجربو او تکړه استادانو له خوا د ګډون والو ته لاندي موضوعات تدریس سول:

۱. ایماني احساس/ اداري اخلاق ۲. د اړیکو ګټور مهارتونه زده کول ۳. کاري پېژند پاڼه او کور لېټر جوړول ۴. اداري مراسلات او برېښنالیک لیکل ۵. آنلاین کار موندل او شبکه جوړول ۶. د کاري مرکو مهارتونه زده کول ۷. د وخت مدیریت کول ۸. راپور لیکل ۹. د ویندوی فن مهارتونه زده کول

په یاد پروګرام کي د دواړو پوهنځیو د آخري سمسترونو محصلانو، فارغانو او باندنیو کسانو ګډون درلود.




## طب پنځم سمستر د کرکېټ ټورنمنټ اتلولي خپله کړه!

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز ورزش کمېټي د پلان له مخي یکشنبه د روان ۱۴۰۱ل. کال میزان میاشتي په دربیمه نېټه د دواړو پوهنځیو د محصلانو ترمنځ د کرکېټ ۱۲ اوریزه ټورنمنټ پیل سوی و چې تېره پنجشنبه (۱۴۰۱/۷/۲۱) د طب پوهنځي پنځم سمستر لوبډلي په اتلولي پای ته ورسېد.

د ټورنمنټ له څو پړاوونو لوبو وروسته د طب پوهنځي دوولسم او پنځم سمسترونه پای لوبي ته ووتل، په پای لوبه کي ټاس ۱۲سمستر وګاټه، توپ اچونه یې وټاکه او د ۲۲۳ منډو هدف یې مقابل ټیم ته ورکړ؛ مقابل ټیم یاد هدف پوره نه کړ او لوبه یې وبایلله. د ډېرو منډو او ډېرو ویکټو اخیستلو پر بنسټ د ټورنمنټ غوره لوبغاړی د طب پوهنځي پنځم سمستر محصل ښاغلی احسان الله وټاکل سو. اول او دوهم مقام ګټونکو ته کپونه ورکړل سول، غوره لوبغاړي ته بېټ او پاته نورو لوبغاړو ته مډالونه ورکړل سول.



## انګلیسي ژبه د بېلابېلو اهدافو له پاره!

د پورته سرلیک اړوند تېره پنجشنبه (۱۴۰۱/۷/۲۱) د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د ژبو مرکز آمر ښاغلي امین الله رامین معلوماتي سمینار ارائه کړ. د یو ساعت سمینار په بهیر کي لاندي موضوعات له ګډون والو سره شریک سول:

- په سازمانونو کي د انګلیسي ژبې اهمیت
- په تحصیلي بنسټونو کي د انګلیسي ژبې اهمیت
- په نړۍواله کچه د انګلیسي ژبې اهمیت
- د علمي سرچینو په برخه کي د انګلیسي ژبې اهمیت



## کفتریا او کاپي مرکز پرانیستل سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مالي او اداري چارو معاونیت د پلان له مخي د مؤسسې په انګړ کي کفتریا او د کاپي مرکز پرون دوشنبه (۱۴۰۱/۷/۴) د رهبري هیئت او محصلانو له خوا پرانیستل سو.
په دې ځای کي لاندي برخي فعالي او ګټي اخیستني ته سپارل سوې دي: - د نارینه محصلانو کانتین - د ښځینه محصلانو کانتین - د نارینه محصلانو خوراک خونه - د ښځینه محصلانو خوراک خونه - د نارینه محصلانو له پاره د کاپي مرکز - د ښځینه محصلانو له پاره د کاپي مرکز - پخلنځي.
کفتریا او کاپي مرکز جوړول د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د خدماتو مهمه برخه وه چي پلان یې پخوا جوړ سوی و او اوس عملي سو. له دې وروسته به استادان، اداري کارمندان او محصلان وکولای سي د یاد مرکز له خدماتو څخه مستفید سي.



## د JCAT ازمویني ته د شاملېدو معلوماتي سمینار ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز د پلان له مخي د یاد مرکز په تالار کي تېره ورځ (دوشنبه - ۱۴۰۱/۷/۱۴) د ښاغلي ډاکټر مهتاب الدین فضلي له خوا د پاکستان JCAT ازمویني ته د شاملېدو او کامیابېدو په اړه معلوماتي سمینار ارائه کړ. سمینار د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سو. ورپسي د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر په طب پوهنځي کي د یادې ازمویني د ارزښت په اړه خبري وکړي. نوموړي محصلانو ته د طب په برخه کي د کمکي کورسونو په اړه هم زیری ورکړ چي ډېر ژر به را پیل سي. له ډاکټر عمر وروسته ښاغلی ډاکټر مهتاب الدین فضلي دریځ ته دعوت سو. نوموړي د یادې ازمویني په اړه خپل چمتو کړي معلومات له ګډون والو سره شریک کړل. ګډون والو خپلي پوښتني وکړي او د ارائه کوونکي له خوا جوابونه ورکړل سول.
په یاد سمینار کي د مؤسسې رهبري هیئت، استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو ګډون درلود.



## محصلان روغتون ته معرفي سول

تېره ورځ (چهارشنبه - ۱۴۰۱/۷/۴) د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي اووم سمستر محصلان د عملي کارونو په موخه سیدال معالجوي روغتون ته معرفي سول. د معرفي کولو غونډه د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سوه. وروسته د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر محصلانو ته د عملي کارونو د ارزښت په اړه خبري وکړي. د سیدال روغتون د ستاژ مسؤل ښاغلي ډاکټر عبدالکریم لطیف د خپلو خبرو په ترځ کي محصلانو ته د هر ډول مرستو ژمنه ورکړه او د حفظ الصحي مراعاتولو سپارښتني یې ورته وکړي.
تر هغه وروسته محصلان د روغتون له ټولو واټونو سره معرفي سول او د هري برخي مسؤل خپل معلومات له دوی سره شریک کړل. د یادوني وړ ده چي تر دې وروسته به یاد محصلان په اونۍ کي درې ورځي خپل عملي کارونه په سیدال معالجوي روغتون کي ترسره کوي.



## د دوهمي ربعي راپورونه ارائه سول

د روان ۱۴۰۱ ل. کال میزان میاشتي په 2مه نېټه د کیفیت تضمین او لوړاوي آمریت د پلان له مخي د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د ۱۴۰۱ل. کال دوهمي ربعي د تطبیقي او عملیاتي راپورونو د ارائه کولو غونډي پیل سوې وي چي د میزان میاشتي په ۷ مه نېټه پای ته ورسېدي.
عمومي ریاست، علمي معاونیت، محصلانو معاونیت، مالي – اداري معاونیت، طب پوهنځی، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، کلینیک څانګه، پارا کلینیک څانګه، حقوق څانګه، سیاسي علوم او نړۍوالي اړیکي څانګه، د کیفیت ژبو مرکز، مسلکي پرمختیایي مرکز، څېړنیز مرکز، محصلانو انسجام او خدماتو مرکز، حقوقي کلینیک آمریت او د نشراتو آمریت هغه اداري واحدونه وو چي د مهالوېش له مخي یې خپل راپورونه د مؤسسې رهبري هیئت، استادانو او اداري کارمندانو سره د شفافیت رامنځ ته کولو په موخه شریک کړل.




## له اداري واحدونو سره نوي محصلان معرفي سول

د ۲۲ کانکور له لاري کامیاب سوو محصلانو ته د پوهنتون پېژندني پروګرام په لړ کي تېره ورځ شنبه (۱۴۰۱/۷/۹) د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز آمر ښاغلي نېک محمد رازمل له خوا یاد محصلان د مؤسسې له ټولو اداري واحدونو سره معرفي سول.
ریاستونه، معانیتونه، آمریتونه، مدیریتونه، عمومي کتابتون، لابراتوارونه، مراکز هغه مهمي برخي وې چي یادو محصلانو له نژدې ولیدل او د اړوند ادارو مسؤل کسانو د خپلو کارونو او فعالیتونو په اړه دوی ته معلومات ورکړل. د یاد پروګرام په بهیر کي دوی ته د محصلانو لارښود کتابونه هم ووېشل سول.



## د میلاد النبي صلی الله علیه وسلم په مناسبت د قرآن کریم ختم وسو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د ربیع الاول 12 مه د میلاد النبي صلی الله علیه وسلم په مناسبت د قرآن کریم ختم وسو. په ختم کي د مؤسسې رهبري هیئت په شمول محصلانو هم ګډون درلود.
د یادوني وړ ده چي د میلاد النبي صلی الله علیه وسلم مقام ته د درنښت او احترام په موخه د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم ستره سیالي پلان کړې ده چي د میزان په 29 مه به یې ازموینه واخیستل سي او تر هغه وروسته به ګټوونکو ته د یوې شاندارې غونډي په ترځ کي ډالۍ ووېشل سي.



پته: دوهمه عینو مېنه، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان.
ویب پاڼه: www.malalay.edu.af
برېښنالیک: info@malalay.edu.af
فېسبوک او انسټاګرام: malalay.mihe
ټویټر: malalayedu
وټس اپ: 0703 300 634

## خبري بولټن

**خپرونکی: ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه**

**درېیم پر له پسي کال**

**د ۱۴۰۱ ل. کال اتمه ګڼه**

**میزان میاشت**

### ویبنار ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي پنجشنبه (۱۴۰۱/۷/۱۴) د کاري مهارتونو لس ورځني کورس په بهیر کي د Dr. Basharat Nazir Reshi له خوا دRising of china as a major power as a possible threat for American hegemony تر سرلیک لاندي ویبنار ارائه سو. د یادې موضوع اړوند مهم معلومات له ګډون والو سره شریک سول او د دوی پوښتنو ته جوابونه ورکړل سول.

د کاري مهارتونو لس ورځنی پروګرام شنبه د میزان په 9مه نېټه پیل سوی دئ چي تر راتلونکې دوشنبې به دوام وکړي.



### ویبنار ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې په کمپیوټر لب کي شنبه (1401/7/16) د بشري سرچینو آمریت د پلان له مخي د Dr. Jitendra Kumar Singh له خوا د How to Support Your تر سرلیک لاندي ویبنار د اداري کارمندانو له پاره ارائه سو. یاد ویبنار په درې نیمو بجو پیل او یو ساعت یې دوام وکړ چي په ترڅ کي یې د کارمندانو د ملاتړ اړوند مهم معلومات له ګډون والو سره شریک سول. د اداري کارمندانو کیفیت لوړاوی د بشري سرچینو یو له مهمو موخو څخه دئ چي د یاد هدف پوره کولو له پاره به وروسته نور ویبنارونه هم ارائه سي.



### د شخصي حفظ الصحې سمینار ارائه سو

د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د طب پوهنځي د پلان له مخي د یاد پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر د شخصي حفظ الصحې په اړه معلوماتي سمینار د طب پوهنځي محصلانو ته تېره پنجشنبه (۱۴۰۱/۷/۲۱) ارائه کړ.

سمینار د ګډون کوونکو له خوا د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سو، ورپسي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید د شخصي حفظ الصحې په اړه لنډي خبري وکړې او د اسلام له نظره یې په یاده موضوع مفصل بحث وکړ. وروسته د موضوع عمومي معلومات، لارښووني او سپارښتني د ښاغلي عمر له خوا له ګډون والو سره شریکي سوې.




### ویبنار ارائه سو

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي شنبه (1401/7/23) د بشري سرچینو آمریت د پلان له مخي د Dr. Yamini Pandey له خوا د Managing Stress & Anxiety During Challenging Times تر سرلیک لاندي ویبنار اداري کارمندانو ته ارائه سو.

یاد ویبنار په درې نیمو بجو پیل او یو ساعت یې دوام وکړ چي په ترڅ کي یې د کارمندانو د کاري سټرس کمولو په اړه بشپړ معلومات له ګډون والو سره شریک سول.

په یاد ویبنار کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې استادانو، اداري کارمندانو، محصلانو او باندنیو مېلمنو حضور درلود.

د اداري کارمندانو کیفیت لوړاوی د بشري سرچینو یو له مهمو موخو څخه دئ چي د یاد هدف پوره کولو له پاره به وروسته نور ویبنارونه هم ارائه سي.



### ډاکټر څوک دئ؟

تېره ورځ سه شنبه (۱۴۰۱/۷/۲٦) د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د طب پوهنځي پارا کلینیک څانګي آمریت د پلان له مخي نوو کامیاب سوو محصلانو ته د طب پوهنځي درېیم سمسټر دوو تنو محصلانو (ماریا او صفیې) د «ډاکټر څوک دئ؟» تر سرلیک لاندي مهم سمینار ارائه کړ.

په دې سمینار کي د طبابت مسلک اړوند مهم معلومات له نوو محصلانو سره شریک سول، په ځیني اخلاقي او مسلکي برخو خبري ورسره وسوې او د مسلکي موخو ترلاسه کولو په اړه سپارښتني ورسره شریکي سوې.



پته: دوهمه عینو مېنه، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان. ویب پاڼه: www.malalay.edu.af برېښنالیک: info@malalay.edu.af فېسبوک او انسټاګرام: malalay.mihe ټویټر: malalayedu وټس اپ: 0703 300 634

## د هند پاسفيک اقتصادي چوکاټ تر عنوان لاندي سمينار ارائه سو

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې حقوقو او سياسي علومو پوهنځي سياسي علومو او نړۍ والو اړيکو څانګې د پلان له مخي تېره ورځ (يکشنبه - ۱۴۰۱/۷/۳) د مناظرې په کلب کي د يادې څانګي اتم سمستر يو تن محصل ښاغلي محمد اکرام دوران د نړۍ وال امنيت مضمون د عملي کار په موخه د هند پاسفيک اقتصادي چوکاټ تر سرليک لاندي سمينار ارائه کړ. سمينار د کلام الله مبارکو آيتونو په تلاوت پيل سو. ورپسي ارائه کوونکی دريځ ته دعوت سو او خپل چمتو کړي معلومات يې د خپل لارښود استاد ښاغلي سردار ولي ولي په مرسته له ګډون والو سره شريک کړل.



## د کيفيت تضمين څلور ورځنی ورکشاپ پای ته ورسېد

د کندهار پوهنتون مسلکي پرمختيايي مرکز په تالار کي شنبه د روان ۱۴۰۱ ل. کال، ميزان مياشتي په ۲۳مه نېټه د تضمين کيفيت، د اعتبار ورکولو معيارونو او علمي پروګرامونو د مسلکي بيا کتني په اړه څلور ورځنی ورکشاپ دائر سوی و چي سه شنبه (۱۴۰۱/۷/۲۶) پای ته ورسېد. په ياد ورکشاپ کي د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې په استازيتوب د مؤسسې سرپرست رئيس او د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد او د تضمين کيفيت او لوړاوي آمر ښاغلي صبغت الله مسرور ګډون کړی و. ورکشاپ د جنوب غرب او لويديځ زون اړوند ولاياتو د دولتي او خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو له پاره د لوړو زده کړو وزارت د تضمين کيفيت او اعتبار ورکولو رياست له لوري پلان سوی و. په ورکشاپ کي د لويديځ او جنوب لويديځ زون د ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو علمي مرستيالانو ، د کيفيت تضمين او لوړاوي آمرينو او له دولتي پوهنتونونو څخه د APR غړو ګډون درلود.
د کيفيت تضمين، د اعتبار ورکولو درې مرحلې، يوولس اصلي او نهه څلوېښت فرعي معيارونه، د پروګرامونو مسلکي بيا کتنه، هغه موضوعات وو چي د څلورو ورځو په بهير کي يې په اړه بشپړ معلومات له ګډون والو سره شريک سول او ګډون والو ته يې تصديق پاڼي ورکړل سوې.



## ممتازه محصلاني وستايل سوې

پنجشنبه (۱۴۰۱/۷/۲۸) د مسلکي پرمختيايي مرکز په تالار کي د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز د پلان له مخي د ممتازو محصلانو ستاينغونډه دائره او مخکښ محصلان وستايل سول.
د غونډې پيل د طب پوهنځي يوې محصلې د کلام الله په مبارکو آيتونو وکړ. د مؤسسې سرپرست رئيس او د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد محصلانو ته د پيليزي وينا په ترڅ کي مبارکي وويله او د دوی هڅي يې وستايلې. د مؤسسې امتياز څښتن ښاغلي ډاکټر خليل احمد کاکړ له دې غونډې څخه خوښي څرګنده کړه، ټولو ته يې مبارکي وويله او د ډېرو هڅو کولو سپارښتني يې ورته وکړې. د طب پوهنځي رئيس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر محصلانو ته د مبارکۍ ترڅنګ د سته امکاناتو، خدماتو او پلان سوو روزنيزو کورسونو په اړه خبري وکړې. سوسن د طب پوهنځي محصله دريځ ته را وغوښتل سوه، نوموړې له مؤسسې، استادانو او موجوده غوره خدماتو منته وکړه او ډاډ يې ورکړ چي د ملالۍ نوم به تل ځلانده ساتي.
د پروګرام په دوهمه برخه کي د مؤسسې له خوا ابوارډونه، ستاينليکونه او ډالۍ ممتازانو ته ترتيب سوې وې چي په لاندي ترتيب ورکړل سول: د طب، حقوقو او سياسي علومو پوهنځيو عمومي اول، دوهم او درېيم نمره محصلان، د هر صنف اول، دوهم او درېيم نمره محصلان، د پوهنځيو دوه تنه غوره محصلان، د پوهنځيو غوره نماينده محصلان او غوره کتاب مطالعه کوونکي محصلان.
د يادوني وړ ده چي د دې ستاينغونډې ګټوونکي د تېر سوي سمستر د نتايجو له مخي ټاکل سوي وو.




## د ژبو مرکز وړيا صنفونه

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې ژبو مرکز له ژمني سره سم د ۲۲کانکور برياليو محصلانو ته د انګليسي ژبي بشپړه (۱۸مياشتنۍ) سلسله په دوو جلا وختونو کي وړيا را پيل کړه:
1. د نجونو له پاره د سهار صنف: له اوو بجو څخه تر اتو بجو پوري
2. د هلکانو له پاره د سهار صنف: له اوو بجو څخه تر اتو بجو پوري



## له اداري واحدونو سره نوي محصلان معرفي سول

پنجشنبه (۱۴۰۱/۷/۲۸) د مؤسسې په انګړ کي د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز د پلان له مخي د ممتازو محصلانو ستاينغونډه دائره او مخکښ محصلان وستايل سول. غونډه د ډاکټر محمد حقبين له خوا د کلام الله په مبارکو آيتونو پيل سوه. د مؤسسې سرپرست رئيس او د علمي چارو مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد ممتازانو ته مبارکي وويله او په وطن کي يې د تحصيل او کار کولو په اړه سپارښتني ورته وکړې. ښاغلي ډاکټر خليل احمد کاکړ هم د ممتازانو هڅي وستايلې او زياته يې کړه چي ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه تل هڅه کوي علمي استعدادونه وروزي او وې ستايي. د طب پوهنځي رئيس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر د ممتازانو هڅي وستايلې، د خدماتو، کورسونو او راتلونکو پروګرامونو په اړه يې معلومات ارائه کړل. د طب، حقوقو او سياسي علومو پوهنځي په استازيتوب د دواړو پوهنځيو محصلانو هر يو سميع الحق او شفيع الله مهمي خبري وکړې او له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې يې منته وکړه. ښاغلي مفتي سيد احمد د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاد له مؤسسې د منني ترڅنګ ممتازانو ته د تحصيل او په وطن کي له ستونزو سره د استقامت په اړه ګټوري خبري وکړې.
د پروګرام په دوهمه برخه کي د مؤسسې له خوا ابوارډونه، ستاينليکونه او ډالۍ ممتازانو ته ترتيب سوې وې چي په لاندي ترتيب ورکړل سول: د طب، حقوقو او سياسي علومو پوهنځيو عمومي اول، دوهم او درېيم نمره محصلان، د هر صنف اول، دوهم او درېيم نمره محصلان، د پوهنځيو دوه تنه غوره محصلان، د پوهنځيو غوره نماينده محصلان او غوره کتاب مطالعه کوونکي محصلان.




## د Rabies يا د لېوني سپي ناروغۍ سمينار ارائه سو

د مسلکي پرمختيايي مرکز په تالار کي د طب پوهنځي د پلان له مخي د ياد پوهنځي استاد ښاغلي پوهنوال ډاکټر بلال احمد رحيمي د Rabies يا د لېوني سپي ناروغۍ په اړه معلوماتي سمينار سه شنبه (۱۴۰۱/۷/۲۶) ارائه کړ. ښاغلي رحيمي د دې ناروغۍ د تعريف، آمار و ارقامو، نخښو، مخينې، د مخنيوي لارو چارو په اړه ګټور معلومات ارائه کړل او د ګډون والو پوښتنو ته يې جوابونه ورکړل. په سمينار کي د مؤسسې رهبري هيئت، استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو حضور درلود.



# خبري بولټن

**خپرونکی: ملالی لوړو زده کړو مؤسسه**

دربیم پر له پسي کال

د ۱۴۰۱ ل. کال نهمه ګڼه

عقرب میاشت

## د پولیو په اړه سمینار ارائه سو

د روان ۱۴۰۱ ل. کال، سې شنبې په ورځ د عقرب په ۳مه نېټه د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د طب پوهنځي د پلان له مخي د یاد پوهنځي د دوولسم سمسټر محصل اِنعام الرحمن مُدثر د اکتوبر ۲۴ مه یا د پولیو نړۍوالي ورځي په مناسبت معلوماتي سمینار ارائه کړ. د یاد سمینار په بهیر کي د پولیو په اړه هر اړخیز را ټول سوي معلومات د طب پوهنځي له محصلانو سره شریک سول او پوښتنو ته یې جوابونه ورکړل سول.



د پولیو په اړه معلوماتي سمینار — سه شنبه - ۱۴۰۱/۸/۳

## فارغانو سره مشورتي مجلس وسو

تېره دوشنبه (۱۴۰۱/۸/۹) د غونډو په تالار کي د محصلانو انسجام او خدماتو مرکز د پلان له مخي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې فارغانو سره مشورتي مجلس وسو. مجلس د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سو، ورپسي د محصلانو چارو مرستیال ښاغلي محمد الیاس کریمي د مجلس په آجنډا خبري را پیل کړې. تر هغه وروسته له طب، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځیو څخه فارغانو په نوبت خبري وکړې، خپلي لاسته راوړني یې له ګډون والو سره شریکي کړې او د ځینو موضوعاتو اړوند یې خپل تجارب د مؤسسې له غړو سره شریک کړل. انټرنشیپ، د کاري مهارتونو زده کول، کار موندنه او په نوو مهارتونو کار کول د مجلس مهم موضوعات وو چي بحثونه په وسول او په پای کي د علمي پروګرامونو د ارزوني په موخه ترتیب سوي فورمونه د فارغانو له خوا ډک سول او مجلس پای ته ورسېد.




## د سیرت النبي ﷺ سیالۍ تحریري ازموینه واخیستل سوه

د روان ۱۴۰۱ل. کال عقرب میاشتي په ۱۳مه نېټه د جمعې په سهار د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې په انګړ کي د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم سیالۍ تحریري ازموینه واخیستل سوه. په ازموینه کي د مدارسو، مکاتبو، پوهنتونونو او نورو بېلابېلو زده کړه ییزو بنسټونو څخه تر درې سوه (۳۰۰) ډېرو نارینه او ښځینه و ګډون کړی و.

ازموینه سهار نهه بجې پیل سوه، پیل یې د کلام الله په مبارکو آیتونو وسو، ورپسي د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید پیلیزه وینا وکړه، ګډون والو ته یې ښه راغلاستووایه، د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم د سیرت په ارزښت یې خبري وکړې او د سوالونو حلولو په تګلاره یې معلومات ارائه کړل. ورپسي د پوښتنو ځانګړی بکس د ګډون والو له خوا خلاص سو، مسؤل کسانو پوښتني ووېشلي، ازموینه پیل او تر دوه ساعته دوام وروسته پای ته ورسېده. دا د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له خوا دربیمه پر له پسي د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم ازموینه وه چي د درو کلونو په بهیر کي یې دائروي. د اوسنۍ تحریري ازموینې پایلي به د عقرب میاشتي په ۲٦مه نېټه اعلان او ګټوونکو ته به اعلان سوې ډالۍ ورکړل سي.



## د APM سمینار ارائه سو

سه شنبه د روان ۱۴۰۱ل. کال عقرب میاشتي په ۱۰ مه نېټه سهار اته نیمي بجې د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د کیفیت تضمین او لوړاوي د پلان له مخي د APM درې ساعته سمینار د ښاغلي پوهنمل انجینر احمد الله هلالي له خوا ارائه سو.

مجلس د کلام الله په مبارکو آیتونو را پیل سو. د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید ښاغلي هلالي ته ښه راغلاست ووایه، مننه یې ځني وکړه او ګډون والو ته یې د سمینار په ارزښت خبري وکړې. ښاغلي هلالي د APM په پېژندنه، ډولونو، اهمیت، اهدافو، پروسې او د راپور لیکلو په بېلابېلو پړاوونه خپل معلومات له ګډون والو سره شریک کړل او د دوی پوښتنو ته یې جوابونه ورکړل. په سمینار کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هیئت، د څانګو آمرینو، مدیرانو، استادانو، اداري کارمندانو او د ځینو خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو استازو ګډون کړی و.




## د شکر یا Diabetes ناروغۍ معلوماتي سمینار ارائه سو

د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د طب پوهنځي د پلان له مخي د یاد پوهنځي استاد ښاغلي پوهنوال ډاکټر بلال احمد رحیمي له خوا د شکر یا Diabetes ناروغۍ په اړه معلوماتي سمینار سه شنبه (۱۴۰۱/۸/۲۴) ارائه سو. سمینار د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سو، ورپسي ښاغلي رحیمي موضوع را پیل کړه، د شکر ناروغۍ رامنځ ته کېدلو، کنټرولولو، په نړۍ کي د اخته کسانو احصائیه او ډولونو په اړه یې مفصل معلومات له ګډون والو سره شریک سول. د نوامبر ۱۴ مه د شکر ناروغۍ نړۍ واله ورځ نومول سوي ده، د سمینار موخه د یادي ورځي په اړه د عامه معلوماتو شریکولو وو. په سمینار کي استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو حضور درلود.



## د سیرت النبي ﷺ سیالي ۵۱ بریالیو کسانو ته ډالۍ ورکړل سوې

د روان ۱۴۰۱ل. کال عقرب میاشتي په 26 مه نېټه د پنجشنبې په ورځ د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز او د ارشاد، دعوت او اصلاح کمېټې د پلان له مخي د سیرت النبي ﷺ درېیمي پر له پسې سیالۍ د اخیستل سوي تحریري ازموینې پایلې اعلان او یو پنځوس (۵۱) ګټونکو ته یې ډالۍ ورکړل سوې.

مجلس د یو تن ګډون وال له خوا د کلام الله مبارکو آیتونو په تلاوت پیل سو، ورپسې د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئیس ښاغلي عبدالرحمن سعید خبري وکړې، ګډون والو ته یې ښه راغلاست ووایه او مننه یې څني وکړه چي په دې پروسه کي یې ګډون کړی و. د محصلانو چارو مرستیال او د ازموینو کمېټې مشر ښاغلي محمد الیاس کریمي د سیالۍ ټول پړاوونه شرحه کړل، د ټولو پروسو څرنګوالی یې بیان کړ او ګډون کوونکو ته د شفافیت ډاډ ورکړ. په مجلس کي د کندهار پوهنتون رئیس ښاغلي مولوي اکرم شاه ارغستاني هم حضور درلود، نوموړي د خپلو خبرو په ترڅ کي ډاډ ورکړ چي د محصلانو هر ډول لاسته راوړني به ستایل کېږي، ټول دولتي مامورین د دوی په خدمت کي دي او هڅه به کوي د محصلانو او د مدرسو زده کوونکو ترمنځ واټن را کم کړي. د کندهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځي رئیس ښاغلي پوهنیار نور احمد مزمل دریځ ته دعوت سو، ښاغلي مزمل د خپلو خبرو په دوام کي وویل چي د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم مطالعه باید د هر مسلمان اساسي موخه وي او د ژوند مشال یې وګرځوي. په مجلس کي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي یو تن محصل ښاغلي نجیب مل ترنم هم وکړ چي مجلس ته یې لا ښکلا ور وبخښله. د کندهار علماو شورا مرستیال ښاغلي مولوي مجاهد هم خبري وکړې، د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ژوند یې معلومات ارائه کړل او له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې یې مننه وکړه چي دا ډول پروګرامونه ترتیبوي. د سیالۍ اول مقام حکمت الله د صدیق الله زوی، دوهم مقام رویا مرسل د نعمت الله لور، درېیم مقام حمید الله د عصمت الله زوی وګټل چي د مؤسسې له خوا کمپیوټران ورکړل سول. له څلورم مقام څخه تر لسم مقام ګټونکو ته سمارټ موبایلونه او له یوولسم مقام څخه تر ۵۱ مقام ګټونکو ته بېلابېلي جایزې ورکړل سوې. لس لومړیو کسانو ته ستاینلیکونه هم ورکړل سول. د یادوني وړ ده چي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له خوا دا درېیمه د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم سیالي وه چي دائره سوه او دا لړۍ به دوام ولري.





## د محصل نړۍ واله ورځ ولمانځل سوه

د روان ۱۴۰۱ل. کال عقرب میاشتي په ۲۸ مه نېټه د شنبې په ورځ د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د عقرب 26مه د محصل نړۍ واله ورځ د شانداره مراسمو په ترڅ کي ولمانځل سوه. د مجلس دریځ چاري عبدالمالک د طب پوهنځي محصل له خوا مخته وړل کېدې. مجلس د یوه تن محصل له خوا د کلام الله په مبارکو آیتونو را پیل سو. پیلیزه وینا د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید وکړه؛ د محصل ورځې مخینه یې بیان کړه، محصلانو ته یې مبارکي ووېله او د مؤسسې له خوا یې د غوره خدماتو وړاندي کولو ډاډ ورکړ. ورپسې د نشراتو او فرهنګي چارو آمریت د پلان له مخي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي عمومي اول نمره ښاغلي محمد هاشم او د مؤسسې په کچه د غوره مطالعه کوونکي ښاغلي نذیر احمد شکوري ترتیب سوې ویډیوګاني ننداري ته وړاندي سوې. محمد هاشم د طب پوهنځي په استازیتوب او انوار الله د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي خپل چمتو کړي مطالب له ګډون والو سره شریک کړل. څېنو محصلانو خپل لیکل سوي شعرونه او نظمونه هم ولوستل چي د محصلانو له تشویق سره مل وو. د «ټبل محصل» تمثیلي پارچه د طب پوهنځي محصلانو له خوا ننداري ته وړاندي سوه چي محصلانو ته پکښې مثبت پیغام ځای پر ځای سوی و.

په غونډه کي پر برخه اخیستونکو محصلانو ته د مؤسسې له خوا ډالۍ ورکړل سوې، ورپسې د محصل ورځې په مناسبت آماده سوی کیک د محصلانو له او استادانو له خوا قطع سو او مجلس پای ته ورسېد.



د محصل نړۍ واله ورځ
شنبه - ۱۴۰۱/۸/۲۸

## د حقوقي کلینیک پېژندني سمینار ارائه سو

د تمثیلي محکمې په تالار کي تېره چهارشنبه (۱۴۰۱/۸/۲۵) د حقوقي کلینیک د پلان له مخي د یاد کلینیک آمر ښاغلي محمد عمران غروال د حقوقي کلینیک پېژندني تر سرلیک لاندي معلوماتي سمینار ارائه کړ. په یاد سمینار کي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلانو ګډون درلود چي پکښې د حقوقي کلینیک په پېژندنه، موخو، کړنلارو، لاسته راوړنو او راتلونکو اهدافو بشپړ معلومات ارائه سول.



## د اولیه مرستو او نرسنګ بنسټیزو مهارتونو کورس پای ته ورسېد

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز د پلان له مخي د طب په مرسته د سکېل لب اولیه طبي مرستو او نرسنګ بنسټیزو مهارتونو کورس چي د میزان په میاشت کي را پیل سوی و تېره دوشنبه (۱۴۰۱/۸/۳۰) یې د فراغت مراسم دائر سول.

د مجلس پیل د کلام الله په مبارکو آیتونو وسو، ورپسې د طب پوهنځي رئیس ډاکټر احمد شاه عمر وینا وکړه؛ ګډون کوونکو ته یې مبارکي ووېله، د کورس په ارزښت یې خبري وکړې او د راتلونکو کورسونو په اړه یې معلومات ارائه کړل. د کورس یو تن ګډون کوونکي عزت الله نوري خبري وکړې، د کورس له دائروونکو یې مننه وکړه او وې ویل چي تر دې وروسته به وکولای سي په طبي مهارتونو سمبال خدمات ټولني ته وړاندي کړي. د پروګرام په وروستی برخه کي د مؤسسې له خوا ګډون کوونکو ته چمتو سوې تصدیق پاڼي ووېشل سوې او مجلس پای ته ورسېد.



د اولیه مرستو او نرسنګ بنسټیزو مهارتونو کورس
دوشنبه - ۱۴۰۱/۸/۳۰

## د ډاکټر امیر جان بشپړ روغتیایي مرکز څخه لیدنه وسوه

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي اووم سمستر محصلانو د ډاکټر امیر جان بشپړ روغتیایي مرکز څخه شنبه (۱۴۰۱/۸/۳۰) لیدنه وکړه او د عملي کارونو په اړه ئې معلومات ترلاسه کړل. د طب پوهنځي رئیس ډاکټر احمد شاه عمر محصلانو ته د بشپړ روغتیایي مرکز اړوند معلومات ورکړل ورپسې د ډاکټر امیر جان بشپړ روغتیایي مرکز مشر محصلان په ګروپونو ووېشل او د کلینیک ټولو برخو ته یې یو یو ګروپ واستاوه، تر څو په هماغه برخه کي عملي کارونه له نژدې ووېني او د خپلو پوښتنو جوابونه ترلاسه کړي.



خبري بولټن

**خپرونکی: ملالی لوړو زده کړو مؤسسه**


**دریيم پر له پسي کال**

**د ۱۴۰۱ ل. کال لسمه ګڼه**

**قوس میاشت**

## مناظره دائره سوه

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي سیاسي علومو او نړی والو اړیکو څانګې د پلان له مخې تېره چهارشنبه (۱۴۰۱/۹/۲) د لومړي سمستر محصلانو د مناظرې په کلب کې د عملي کار په موخه مناظره تر سره کړه. د نوموړي ډیپارټمنټ استاد ښاغلي مُحب الله شُبير په پيل کې د مناظرې په اړه مهمي لارښووني له ګډون کوونکو سره شریکي کړې. تر هغه وروسته څلور تنه مناظره کوونکي په دوو (تائید او رد) ګروپونو وېشل سوي وو، په «تأئید» ګروپ کې وارث احمد، نور الله، نصیر احمد او د «رد» په ګروپ کې حمید الله، موسیل احمد او محمد ګډون کړی و. د بحث موضوع يې د افغانستان بهرني سیاست کې د بې طرفۍ ستراتېژي وه، یوه ګروپ د رد او بل ګروپ د تأئید په اړه خپل دلایل وړاندي کړل، دلایل يې د ژوري هيئت له خوا وارزول سول، نمرې ورکړل سوې او د ترلاسه سوو نمرو له مخې د رد ګروپ ګټوونکی اعلان سو. په دې مناظره کې د حقوقو پوهنځي اداري کارمندانو، استادانو او محصلانو ګډون درلود.



## د کلینیکي داخلې کورس پيل سو

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د مسلکي پرمختیايي مرکز او طب پوهنځي د پلان له مخې تېره شنبه د روان ۱۴۰۱ل. کال قوس میاشتي په پنځمه نېټه د طب پوهنځي اووم سمستر محصلانو له پاره د کلینیکي داخلې کورس راپيل سو. د کورس پيل د یو محصل له لوري د کلام الله د مبارکو آیتونو په تلاوت وسو په پيل کې د طب پوهنځي رئیس ډاکټر احمدشاه عمر د یاد کورس پر اهمیت خبري وکړې او ډاډ يې ورکړ چې د دې کورس په پای ته رسېدو سره به محصلین وکولای سي د مریض تشخیص، فزیکي معاینه، لابراتواري معاینه، تفریقي تشخیص او نور مهارتونه په عملي ډول زده کړي. تر هغه وروسته استاد ډاکټر اسدالله نظري محصلینو ته د یاد کورس پر اهمیت خبري وکړې او خپل ټول پلان يې له محصلینو سره شریک کړ. د یادوني وړ ده چې دا د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې هم مهاله پنځم کورس دی چې شروع کیږي او نور ټول کورسونه په منظم ډول جریان لري.



## د افغانستان خصوصي پوهنتونونو د اتحادیې رئیس او پلاوي له ملالی لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه وکړه

یکشنبه ۱۴۰۱ د قوس میاشتي پر ٦ مه نېټه د افغانستان خصوصي پوهنتونونو د اتحادیې عمومي رئیس ښاغلي دوکتور احمد طارق کمال، اجرائیه رئیس عبدالله عبدالبر، د مطبوعاتو رئیس محمد کریم ناصري، د بایزید روښان لوړو زده کړو مؤسسې رئیس پوهاند حفیظ الله حداد او د جنوب زون د خصوصي پوهنتونو او لوړو زده کړو مؤسساتو رئیس ډاکټر فاروق نعیمي او مرستیال يې ډاکټر عصمت الله یعقوبي له ملالی لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه وکړه. په لیدنه کې د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او د مؤسسې په هکله يې هر اړخيز معلومات ورکړل. یاد پلاوي د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې له بېلابېلو برخو څخه تر لیدني وروسته خوښي وښوده او زیاته يې کړه چې د افغانستان په کچه په خصوصي پوهنتونونو کې د داسي معیاري او د محصلانو له پاره په اړینو امکاناتو سمبال پوهنتون لرل د نیکمرغۍ او ویاړ خبره ده. نوموړي هيئت له ملالی لوړو زده کړو مؤسسې سره د هر ډول مرستي ډاډ ورکړ او ویې ویل چې دا ډول لیدني به جاري ساتي. د یادوني وړ ده چې په یاده لیدنه کې د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د امتیاز څښتن ډاکټر خلیل احمد کاکړ او رهبري غړو هم ګډون درلود.



## د ECG یا د زړه برقي ګراف کورس پيل سو

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د طب پوهنځي د پلان له مخې نن شنبه د روان ۱۴۰۱ل. کال قوس میاشتي په پنځمه نېټه د طب پوهنځي محصلانو له پاره د زړه برقي ګراف کورس دوهمه دوره راپيل سوه. د کورس پيل د کلام الله د مبارکو آیتونو په تلاوت وسو د طب پوهنځي رئیس ډاکټر احمد شاه عمر پيلیزه وینا وکړه نوموړي د یاد کورس پر اهمیت خبري وکړې، او ډاډ يي ورکړ چي د دې کورس تر ختم وروسته به محصلین وکولای سي د زړه د ګراف ماشين استعمال او نورو مهارتونو سره بلدتیا ولري همدارنګه نوموړي خوښي وښودل چي دوی توانېدلي چي خپلو محصلینو ته بېلابیل کورسونه په یوه وخت راپيل کړي او په ښه ډول مخته روان دي. تر هغه وروسته متخصص استاد ډاکټر فریدون محسن محصلینو ته مهمي لارښووني وکړې او د یاد یوې میاشتني کورس ټول پلان يي له محصلینو سره شریک کړ. د یادوني وړ ده د ECG یا د زړه برقي ګراف دا دوهم کورس دی چي دائرېږي او لومړۍ دوره يي مخکي ترسره سوې وه.



## د حقوقي مشورې تمثیل ارائه سو

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې حقوق او سیاسي علومو پوهنځي حقوقي کلینیک د پلان له مخي د حقوقي کلینیک د مضمون عملي کار په موخه د حقوقي مشورې تمثیل د پنجشنبې په سهار د قوس میاشتي په ۱۰مه نېټه د تمثیلي محکمې په تالار کي د اووم سمستر محصلانو په مرسته ارائه سو. له تمثیل مخکي د کلام الله مبارک آیتونه تلاوت سول. ورپسې د حقوقې کلینیک آمر ښاغلي محمد عمران غروال د عملي کارونو په اهمیت او ترسره سوو عملي کارونو معلومات وړاندي کړل. تر هغه وروسته د حقوقي مشورې تمثیل د ټولو پړاوونو په طی کولو سره د ګډون والو په حضور کي ارائه سو. وروسته د حقوقي کلینیک آمر او د همدې مضمون ښوونکي ښاغلي محمد عمران غروال تمثیل مثبت ارزیابي کړ او په اړه يي محصلینو ته د لا نورو عملي کارونو ډاډ ورکړ.



پته: دوهمه عینو مېنه، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان. ویب پاڼه: www.malalay.edu.af برېښنالیک: info@malalay.edu.af فېسبوک او انسټاګرام: malalay.mihe ټویټر: malalayedu وټس اپ: 0703 300 634

## تمثيلي محکمه دائره سوه

د روان ۱۴۰۱ ل. کال قوس میاشتي په ۱۴ مه نېټه د دوشنبې په ورځ د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي حقوق څانګي د اووم سمسټر محصلینو له لوري د تمثيلي محکمې په تالار کي تمثيلي محکمه دائره سوه. د تمثيلي محکمې تر پیلېدو مخکي د کلام الله مبارک آیتونه تلاوت سول، د حقوقي کلینیک آمر ښاغلي عمران غروال پیلیزه وینا وکړه او د عملي کارونو په برخه کي یې تمثيلي محکمې ګټوري وبللې. وروسته تمثيلي محکمه پیل سوه او ټول پړاوونه یې پرله پسې مخته یووړل سول. په دې مجلس کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هیئت، استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو ګډون درلود. په ورستیو کي د تمثيلي محکمې ارزونه دملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئیس او علمي مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید وکړه نوموړي له محصلانو څخه د دوی د کوښښونو په خاطر مننه وکړه او هغوی ته یې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.




## حقوق اووم سمسټر د فوټبال ټورنمنټ اتلولي وګټل

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو چارو معاونیت، محصلانو انسجام او خدماتو مرکز ورزش کمېټې د پلان له مخي د روان ۱۴۰۱ ل. کال د عقرب میاشتي پر ۲۹ مه نېټه د محصل نړۍ والي ورځي تر سرلیک لاندي د فوټبال ټورنمنټ پیل سوي لوبي تېره یکشنبه د قوس میاشتي ۱۳ مه نېټه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي اووم سمسټر په اتلولۍ پای ته ورسېدې. د دواړو لوبډلو ترمنځ لوبه د مؤسسې په لوبغالي کي درې نیمي بجې پیل سوه. طب لسم سمسټر یو او حقوق اووم سمسټر دوه ګولونه ولګول او بریا یې خپله کړه. د ټورنمنټ په پای کي د حقوق پوهنځي پنځم سمسټر محصل حضرت الله د غوره ګول وهونکي په توګه، د طب پوهنځي دریم سمسټر محصل محمد محسن د غوره ګول نیونکي په توګه ونومول سول. همدارنګه غوره لوبغاړ میرویس ته مننلیک او یوه جوړه لباس د مؤسسې له لوري ورکول سول.



## د ژبو مرکز اخیستل سوې ازموینې پایلې اعلان او ګټوونکو ته ډالۍ ورکړل سوې

د روان ۱۴۰۱ ل. کال قوس میاشتي په ۱۲مه نېټه د شنبې په ورځ د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د ژبو مرکز اخیستل سوې ازموینې پایلې اعلان سوې او ګټوونکو ته یې ډالۍ ورکړل سوې. مجلس د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سو، ورپسي د ژبو مرکز آمر ښاغلي امین الله رامین د ازموینې په پړاوونو، شفافیت، ګټو او ارزښت خبري وکړي. د مجلس په دوهم پړاو کي د ژبو مرکز له خوا د اخیستل سوې عمومي ازموینې پایلې اعلان سوې، لسو لومړیو ګټوونکو ته د ژبو مرکز له خوا ستاینلیکونه او ډالۍ ورکړل سوې. تر هغه وروسته د انګلیسي ژبي او عربي ژبي هغو زده کوونکو ته نتایج پاڼي ورکړل سوې چي صنفونه یې پای ته رسېدلي وو او لوړو صنفونو ته یې ارتقاء کړي وه. په پام کي ده چي ډېر ژر د ژبو مرکز نوي صنفونه را پیل سي، علاقه مندان کولای سي په یادو صنفونو کي ګډون وکړي.




## د څېړني ډیزاین درې ورځنۍ ورکشاپ پای ته ورسېد

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د څېړنیز مرکز د پلان له مخي د مسلکي پرمختیایي مرکز په مرسته د څېړني ډیزاین درې ورځنۍ ورکشاپ نن پنجشنبه د ۱۴۰۱ ل. کال د قوس میاشتي پر ۱۰ مه نېټه پای ته ورسېد.
د ورکشاپ په دریو ورځو کي د استاد ډاکټر بلال احمد رحیمي له لوري ګډون کوونکو ته د څېړني پېژندنه، ډولونه، د څېړني اهمیت، د څېړني شکلونه، د هغوی د تطبیق لارې چارې او داسي نور مهم موضوعات ارائه کړل سول او د ورکشاپ په جریان کي ګروپي کارونه هم تر سره سول. د یادوني وړ ده چي د ورکشاپ وروستیو کي ګډون کوونکو ته تصدیق پاڼې هم ووېشل سوې.




## د ویني بانک ته وینه ورکړل سوه

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د طب پوهنځي د رئیس ډاکټر احمد شاه عمر په لارښوونه پرون سه شنبه (۱۴۰۱/۹/۱۵) د میرویس حوزوي روغتون د ویني بانک ته ۷۱ تنو محصلانو او اداري کارمندانو ۳۵۵۰۰ سي سي وینه ورکړه. د ویني ورکولو پر مهال د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید د ویني بانک کارکوونکو ته ښه راغلاست ووایه، له محصلانو او اداري کارمندانو یې مننه وکړل او زیاته یې کړه چي ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې تل په یاده برخه کي خپل رسالت ادا کړی دی. د یادوني وړ ده چي ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې کارمندانو او محصلانو وخت ناوخت د خپلو ناروغو هیوادوالو د درملني په موخه وینه ورکړې ده او یاده سلسله به جاري وي.



## مناظره دائره سوه

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي سیاسي علومو او نړۍ والو اړیکو څانګي د پلان له مخي پرون سه شنبه (۱۴۰۱/۹/۱۵) د پنځم او څلورم سمسټرونو محصلانو د مناظرې په کلب کي د عملي کار په موخه مناظره تر سره کړه. د نوموړي ډیپارټمنټ آمر ښاغلي شجاع آرین په پیل کي د مناظرې په اړه مهمي لارښووني له ګډون کوونکو سره شریکي کړې. تر هغه وروسته څلور تنه مناظره کوونکي په دوو (مثبت او منفي) ګروپونو وېشل سوي وو، په «مثبت» ګروپ کي احسان الله او امان الله او د «منفي» په ګروپ کي احسان الله او اشفاق احمد ګډون کړی و. د بحث موضوع یې په افغانستان کي د امریکا شل کلن حضور مثبت او منفي اړخونه وه، څلورم سمسټر د مثبتو او پنځم سمسټر د منفي اړخونو په اړه خپل دلایل وړاندي کړل، دلایل یې د ژوري هیئت له خوا وارزول سول، نمرې ورکړل سوې او د ترلاسه سوو نمرو له مخي څلورم سمسټر ګټوونکی اعلان سو. د پایلو د اعلان په وخت کي د مؤسسې سرپرست رئیس او علمي مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید محصلانو ته تشویقي وینا وکړل او د مناظرې ګډون کوونکو ته یې ترتیب کړې جایزې ووېشلې. په دې مناظره کي اداري کارمندانو، استادانو او محصلانو ګډون درلود.



# خبري بولټن

**خپرونکی: ملالی لوړو زده کړو مؤسسه**

**دربیم پر له پسي کال**

**د ۱۴۰۱ ل. کال یوولسمه ګڼه**

**قوس میاشت**

## مدافع وکیل او د عدالت په تامین کې د هغه رول سمینار ارائه سو

دوشنبه د ۱۴۰۱ ل. کال د قوس میاشتي پر ۷ مه نېټه د حقوقي کلينيک د پلان له مخي د تمثيلي محکمې په تالار کي د حقوق او سياسي علومو پوهنځي استاد ښاغلي عبدالرحمن اڅکزي له لوري د همدې پوهنځي محصلانو ته د مدافع وکيل او د عدالت په تامين کي د هغه رول تر نامه لاندي سمينار ارائه سو.

د وکالت او مدافع وکيل پېژندنه، په اسلامي شريعت کي د دفاع وکالت مشروعيت، د مدافع وکيل ټاکلو تګلاري، د مسلکي مدافع وکيل ځانګړني او د عدالت په تامين کي د مدافع وکيل رول د ياد سمينار مهم موضوعات وه چي محصلانو ته ارائه کړل سول او په وروستيو کي د محصلانو پوښتنو ته ځوابونه وويل سول.



## د نماينده ګانو سره د همږغۍ ناسته تر سره سوه

يکشنبه د ۱۴۰۱ ل. کال قوس مياشتي پر ۶ مه نېټه د محصلانو خدماتو او انسجام مرکز د پلان له مخي د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د غونډو په تالار کي د طب پوهنځي او حقوق سياسي علوم او نړۍوالو اړيکو پوهنځي د ټولو صنفونو له نماينده ګانو سره د همږغۍ ناسته ترسره سول. د غونډي پيل د کلام الله په مبارکو آيتونو وسو وروسته د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې سرپرست رئيس او علمي مرستيال ښاغلي عبدالرحمن سعيد پيليزه وينا وکړه نوموړي نماينده ګانو ته د ښه راغلي ترڅنګ له هغوی مننه وکړه چي تل يې له مؤسسې سره په بېلابېلو برخو کي همکاري کړې ده، همدارنګه نوموړي له هغوی غوښتنه وکړل ترڅو ټولي ستونزي او غوښتنې پر وخت له مربوطه ادارو سره شريکي کړي ترڅو پر وخت رسيدګي ورته سوې وي. د غونډي په جريان کي د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د امتياز څښتن او د طب پوهنځي استاد ښاغلي ډاکټر خليل احمد کاکړ، د محصلانو چارو مرستيال ښاغلي محمد الياس کريمي، مالي او اداري مرستيال ښاغلي حبيب رسول سيدي او د طب پوهنځي رئيس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر هم په نوبت سره ويناوي وکړې.

وروسته د ټولو صنفونو نماينده ګانو هم په نوبت سره د خپلو خبرو په ترڅ کي له مؤسسې مننه وکړل چي دوی ته يې د مؤسسې داخل او بهر د نظري او عملي درسونو او بېلابېلو امکاناتو زمينه مساعده کړې او دوی به تل هڅه وکړي ترڅو په راتلونکي کي لا هم د مؤسسې سره په هره برخه کي همکار پاته سي.



## د محصلانو د عملي کارونو ارزونه وسوه

د روان ۱۴۰۱ ل. کال ميزان مياشتي په ۳۰ مه نېټه د شنبې په ورځ د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د ارزوني کمېټي د پرېکړي له مخي په سيدال روغتون کي د طب پوهنځي محصلانو عملي کارونو ارزونه وسوه. ارزونه د کيفيت تضمين او لوړاوي آمر ښاغلي صبغت الله مسرور، د طب پوهنځي مرستيال ښاغلي ډاکټر محمد اسماعيل سادات او د کلينيک ځانګي آمر ښاغلي محمد يونس سليمان په مشرۍ ترسره سوه. د محصلانو د عملي کارونو له پاره د امکاناتو شتون، د حاضري تعقيب، د محصلانو د رضايت کچه، په بېلابېلو برخو کي د عملي کار آسانتياوي، په صنفونو او د عملي کار په ځايونو کي د استادانو لارښوونې د ارزوني قوي ټکي وو. د دې ترڅنګ د محصلانو وړانديزونه، ستونزي او سپارښتني هم واوريدل سوې او له مسؤلانو سره شريکي سوې.




## د محصل له خوا معلوماتي سمينار ارائه سو

يکشنبه ( ۱۴۰۱/۹/٦) د مسلکي پرمختيايي مرکز په تالار کي د سياسي علومو او نړۍوالو اړيکو څانګي اتم سمستر محصل احمد شاکر عزيزي له خوا "په افغانستان کي د بشري حقونو د ملاتړ ميکانيزمونو او ښستونو ته کتنه" تر سرليک لاندي محصلانو او اداري کارمندانو ته معلوماتي سمينار ارائه کړ.

سمينار د يو تن محصل له لوري د کلام الله په مبارکو آيتونو پيل سو، پيليزه وينا د حقوقو او سياسي علوم پوهنځي استاد خدای نور شريف زي وکړه، نوموړي د موضوع د اهميت او له نوموړي محصل سره د همکارۍ اړوند خبري وکړې او داډ يې ورکړ چي دوی به له ټولو محصلينو سره د څېړنې په برخه کي همکاري کوي.

وروسته موضوع د احمد شاکر عزيزي له خوا را پيل سوه، په اړه يې بشپړ معلومات له ګډون والو سره شريک سول او ټولو پوښتنو ته يې ځوابونه هم ورکړل سول.



## د DNA Sequencing سمينار ارائه سو

چهارشنبه د ۱۴۰۱ ل. کال قوس مياشتي پر ۱٦ مه نېټه دملالی لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي پارا کلينيک څانګي د پلان له مخي د دوهم سمستر محصل نثاراحمد احدي له لوري د DNA Sequencing سمينار ارائه کړ.

د سمينار پيل د کلام الله په مبارکو آيتونو وسو وروسته په ياد سمينار کي د ټاکل سوي موضوع په هکله پوره معلومات له ګډون والو سره شريک سول او د هغوی پوښتنو ته ځوابونه وويل سول.

د يادوني وړده چي دا دول صنفي فعاليتونه د ماليکولي بيولوژۍ مضمون تر نامه لاندي د پارا کلينيک څانګي د آمريت او د همدې مضمون د ښوونکي وکيل احمد هيوادمل په لارښوونه د محصلانو له لوري ارائه کيږي او دا لړۍ به جريان ولري.




پته: دوهمه عينو مېنه، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان.
ويب پاڼه: www.malalay.edu.af
بريښناليک: info@malalay.edu.af
فيسبوک او انستاګرام: malalay.mihe
ټويټر: malalayedu
وټس اپ: 0703 300 634

## د Soft Skills او Hard Skills کورسونو فراغت غونډه دائره سوه

پنجشنبه (۱۴۰۱/۹/۱۷) د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د همدي مرکز او محصلانو انسجام مرکز د پلان له مخي د سافټ سکیلز او هارډ سکلېز کورسونو فراغت غونډه دائره سوه. مجلس د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سو، ورپسي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي مرستیال ښاغلي احمد رسول سیدي پیلیزه وینا وکړه، تر هغه وروسته د کورسونو په ارزښت او اهمیت د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید خبري وکړې، د محصلانو په استازیتوب د طب پوهنځي محصل صفت الله امین خبري وکړې او له مؤسسې یې منته وکړه چي دا ډول کورسونه ورته دائروي. د مجلس په دوهم پړاو کي د محصلانو مرستیال ښاغلي محمد الیاس کریمي له خوا ټولو ګډون کوونکو ته د حاضري قید له مخي تصدیق پاڼي وویشل سوې. د دې ترڅنګ د یادو کورسونو استادانو ته د مؤسسې له خوا منلیکونه چمتو سوي وو چي د رهبري هیئت له خوا ورکړل سول.




## د روغتیایي سیستم تحقیق او مدیریت سمینار ارائه سو

دوشنبه (۱۴۰۱/۹/۲۱) د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي د یاد مرکز د پلان له مخي د طب پوهنځي محصلانو ته د روغتیایي سیستم د تحقیق او مدیریت اړوند مهم سمینار د ښاغلي پوهاند ډاکټر عبدالواحد وثیق له خوا ارائه سو. تر سمینار مخکي مجلس د کلام الله په مبارکو آیتونو پیل سو، ورپسي د طب پوهنځي رئیس ډاکټر احمد شاه عمر د ښاغلي وثیق پېژندنه له ګډون والو سره شریکه کړه او د سمینار د ارزښت په اړه یې محصلانو ته مهمي خبري وکړې. وروسته ښاغلی وثیق دریځ ته دعوت سو او نوموړي خپل چمتو کړي معلومات په ترتیب له محصلانو سره شریک کړل، له محصلانو یې د یادي موضوع په اړه پوښتني وکړي او د دوی پوښتنو ته یې جوابونه وویل. د سمینار په ختم کي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له خوا ښاغلي وثیق ته د سمینار ارائه کولو له کبله منلیک ورکړل سو او منته ځني وسوه.



## د روهیله لېسي زده کوونکو له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه وکړه

دوشنبه – ۱۴۰۱/۹/۲۱) د کندهار روهیله لېسي زده کوونکو له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه د علمي سیر په موخه لیدنه وکړه. د لیدني په اوله برخه کي د مسلکي پرمختیایي مرکز په تالار کي راغلو مېلمنو ته د ښه راغلاست مجلس تنظیم سوی و، چي پیلیزه وینا یې د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید وکړه، ښاغلي سعید مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه، د مؤسسې لنډ معرفت یې ورته بیان کړ او د هر ډول علمي همکاریو ډاډ یې ورکړ. د روهیله لېسي یو تن استاذ ښاغلي جلالزي خوشحال هم خبري وکړې، له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه یې منته وکړه او په علمي چارو کي یې هڅي وستایلي. د طب پوهنځي اووم سمستر یو تن محصل ښاغلي عبدالحی رسولي د «څنګه مطالعه وکړو؟» تر سر لیک لاندي زده کوونکو ته مهم سمینار ارائه کړ، ورپسي د طب پوهنځي نهم سمستر محصل ښاغلي حکمت الله الله یار د هاضمي سیستم په اړه ګټور سمینار ارائه کړ. د دې ترڅنګ د طب پوهنځي رئیس ښاغلي ډاکټر احمد شاه عمر هم ځیني اخلاقي موضوعات له زده کوونکو سره شریک کړل. د پروګرام په دوهمه برخه کي زده کوونکو د مؤسسې له لابراتوارونو، کتابتون، کمپیوټر لب، تمثیلي محکمې او ځینو نورو مهمو برخو څخه لیدنه وکړه او د هر بخش مسؤل خپل معلومات له دوی سره شریک کړل.


د روهیله لېسي زده کوونکو لیدنه — دوشنبه - ۱۴۰۱/۹/۲۱

## د مونوګرافونو دفاعوې پیل سوې

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوقو، سیاسي علومو او نړۍوالو اړیکو څانګو د پلان له مخي د 15 مې دورې محصلانو له مونوګرافونو څخه د دفاع کولو غونډې پرون شنبه (۱۴۰۱/۹/۲٦) رسماً را پیل سوې.
د پیل په مجلس کي یې د مؤسسې سرپرست رئیس او د علمي چارو مرستیال ښاغلي عبدالرحمن سعید پیلیزه وینا وکړه، محصلانو ته یې د تخصصي مطالعې په اړه سپارښتني وکړې، د مونوګرافونو ارزښت یې ورته بیان کړ او په دې برخه کي یې د لا ډېرو هلو ځلو توصیې ورته وکړې. د سیاسي علومو او نړۍوالو اړیکو څانګي آمر ښاغلي شجاع آرین د ښې ارائې په اړه محصلانو ته سپارښتني وکړې او له دوی یې وغوښتل چي په ښه ډول خپل مونوګرافونه ارائه کړي. ورپسي یو تن محصل ښاغلي محمد اکرم د خپل مونوګراف دفاع را پیل کړه او ورپسي د مهالوېش مطابق نورو محصلانو هم له خپلو مونوګرافونو دفاعوې وکړې. د یادوني وړ ده چي یاد بهیر به د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په دواړو څانګو کي د مهالوېش مطابق څو ورځي دوام وکړي.



## پېنل دائر سو

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د سیاسي علومو او نړۍوالو اړیکو څانګي د پلان له مخي د مناظرې په کلب کي تېره چهارشنبه (۱۴۰۱/۹/۲۳) د اتم سمستر محصلانو ترمنځ پېنل دائر سو.د مجلس پیل د کلام الله په مبارکو آیتونو وسو، ورپسي د پېنل کوربه ښاغلي محمد نعیم د بحث موضوع او مېلمانه معرفي کړل او تر هغه وروسته ښاغلي جمیل احمد، محمد اکرم او قدرت الله د پېنل په ټاکل سوې موضوع «له وروستیو تحولاتو وروسته په افغانستان کي د تابعیت او ټولنو جوړولو د حق وضعیت» خپل دلایل او نظریات ارائه کړل. د یاد پېنل لارښود استاد ښاغلی خدای نور شریف زی و او ارزونه یې د سیاسي علومو او نړۍوالو اړیکو څانګي آمر ښاغلي شجاع آرین وکړه. مناظرې او پېنلونه د سیاسي علومو او نړۍوالو اړیکو څانګي محصلانو عملي کارونه دي چي د څانګي د پلان او مهالوېش له مخي په منظم ډول مختنه وړل کېږي ترڅو محصلان د نظري زده کړو ترڅنګ په عملي برخه کي لازم مهارتونه ترلاسه کړي.




## کتاب ارزښت اکاډمي شاګردانو له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه ولیدل

تېره ورځ (سه شنبه – ۱۴۰۱/۹/۲۹) د کندهار کتاب ارزښت اکاډمي زده کوونکو له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څخه د علمي سیر په موخه لیدنه وکړه. له راغلو مېلمنو سره د طب پوهنځي کلینیک څانګي آمر ښاغلي ډاکټر محمد یونس سلیمان ملتیا کوله، په پیل کي شاګردانو د طب پوهنځي له څلورو لابراتوارونو څخه لیدنه وکړه، په مایکروبیولوژي لابراتوار کي د پارا کلینیک څانګي آمر ښاغلي وکیل احمد هیوادمل او په کیمیا لابراتوار کي د طب پوهنځي اول سمستر دوو تنو محصلانو نوموړو شاګردانو ته تجربې ترسره کړې.
ورپسي عاجل اطاق، کمپیوټر لب، د نارینه او ښځینه محصلانو د مطالعې جلا اطاقونه او کتابتون هغه ځایونه وو چي یادو شاګردانو ته ور وپېژندل سول، د یادو برخو مسؤل کسانو د خپلو کاري ساحو په اړه دوی ته معلومات ارائه ورکړل او د دوی سوالونو ته یې جوابونه وویل.

